


Ketabton.com

(c)Ketabton.com: the Digital Library

بي غږه خبري

ژباړه او راټولونکی اکرام الله زيار

(c) ketabton.com: The Digital Library

بی غږه خبرې

Email.com ikramprince51@gmail.com
(c) Ketabton.com: the Digital Library

که چېرې تاسو هم غواړئ چی کتابونه فی ډیف کړی
نوو ماته په دی واټساپ مسیج وکړې0711638977

چی می ورغلے زخم بیا تازه کړی
هغـه مغرورا لیـوانی چـرته دے
چې ځواني وي ، ارمآنوونه خو به وي...

او بیخی بیخوندا بے سوروروا یمه
مابناما هغه یو سړیے چرته دے

زما به هم تقدیر تغیر وکړي
زه هم خدای لرم

• • • • • • • • • • • • • • • • • •

## ډالۍ

خپله دا وړه غونډې هڅه په ډیر مینه او احترام
ډاکټرې شیکلا(سعادت)ته ډالۍ کوم چی په سختو شرایطو کی
ماسره سنګه په سنګه ولاړ وه زه ویاړم چی داسی یو ملګری لرم

FB com PRINCE IKRAM

© Ketabton.com: the Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بی غږه خبرې

**پيل**

شـــور مې دَ ستړي زړهٔ د سـتړو پرهرونو لاړو

يو سړے څهٔ لاړو چې خوند د مانښـامونو لاړو

❀↶

**ښايي هرڅه هير کړم،خو د**

**هغو خلکو مهرباني به هيڅکله**

**هيري نکړم چې په سختو کې**

**راسره وو.**

❀↶

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ملګرى!**

**په دې نړۍ کې هر څوک يو ملګري ته اړتيا لري، چې د ترنم غوندې واوسي او هره کرښه يې له ستاينې ډکه وي، که تاسو ورته د ساز او سرود په څېر نه شئ کېداى؛ نو په دې نړۍ کې درته هېڅ اړتيا نشته.**

**،هيروۀم يې نه**

**ستا تولې ترخې خاطرې مې.!**

**د زړه په کتابچه کې هماغسې ليکلې .**

**په تا مې ستا کاته هم نه لوريږي.**

**ستا د کور تولې ائينې ماتوم.**

**پوهيږې زما( ... )**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅکله یو هلک ته دا مه ور زده کوئ چی څنګه تاسو سره چلند وکړی څکه که په رښتیا مینه در سره لری په خپله خوښه یې کوي.

❀ی

## کالونه وړاندې!!

تصادفاً،

بې له فکر او سوچ!!

زړه تا انتخاب کړي.

ستا لپاره؛

وځوربېده،

وخوږېده او وردربېده،

تردې خپل ځان یې مات، مات اوتوتې که.

اوس کالونه وروسته؛

پرخپله تاکنه پښېمان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ستا هرېدل غواړي.**

**زه پوهېږم وخت نيسي،**

**تر دې چې،**

**شــايد دا زړه بــې خرکتــه شــي؛ او تــه يــې پــه کاملــه اندازه هېر کړی نه وې**

❀↶

**زه نـور د هـيڅ شـي پـه کيسـه کـې نـه يـم مـا هرڅـه له لاسه ورکړی چې ما غوښتل !!!**

↶❀

**هر څه موقتی دي احسـاسات فکـرونـه**

**اړيکه ژوند او حتا انسانان هم**

**زما د ژوند تر ټولو بد ترينه کال وه 2023**

❀↶

**هيڅوک !**

**نه راځی چی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسو ژوند جوړ کړی .

ستا

ژوند ستا مسؤلیت دی

❀↶

په هغه ځای پسې مه ځه چیرې چې ته یې نه پیژندلی

❀↶

هره هغه دروازه، او کړکۍ وتړئ چې تاسو دردمن کوي، مهمه نده چې بهرنۍ صحنه څومره ښکلې او زړه راښکونکې وي

کرښې

❀↶

چې یې درته وویل

!یو څه واغونده یخ دې ونه،وهي

!په ځان دې پام کوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



!ماښام وختي کور ته راځه

.جواب کې ورته وواېه چې

«زه هم درسره مينه لرم»

❀↶

ځـــای يـــا مکـــان هـــېڅ ارزښـــت نـــه لـــري کلـــه چـــې هغـــه څـــوک پکـــې نـــه وي چـــې تـــه مينـــه ورســـره لرې

↶❀

پـــه ســـختو ورځـــو کـــي ذهنـــي ملاتـــړ نـــه هيريـــدونکی دی

↶❀

.پوهيږې

زما د زړه درزا

دوه حالتو کښې ډيره تيزيږي.

او بی اختياره کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو...!

ستا د عکس په لیدو

بل...!

ستا د نوم په اورېدو..

❀↶

درد تــل ښایســته وي یــوازې ښــه زړونــه انتخابوي

❀↶

..اوښکي..!!

،اوښکي صرف څاڅکي نه بلکي کلمې او جملې دي

خو خبره داده چي هر څوک يې نشي لوستلای

❀↶

ډیر خلک نه د خپل زړه کار کوې نه د زړه خبری لیکي او نه د زړه خبری وایی ځکه ویرېږې چی خلک به څه وایی زه وایم د خلکو پروا مه کوه دلته د خلکو عادت دی څوک چا ته او په چا پسی ښی خبری نه کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بی غږه خبرې

**نو ښه ده چی ژوند د په خپل زړه وکړئ او خلکو ته بلی بلی ووایی**

**په ژوند کې هیڅ کله هم تسلیم نشی**

**ځکه چې د هرې ثانیه په تیریدو سره**

**تاسو خپل هدف ته نیږدې کیږي**

**هغه ژوند او ارمانونه مه هیره وه چې تا یی د لاسته راوړلو لپاره له ځان سره وعده کړې وه !!!!**

**د ځان سره داسې چلند وکړه...**

**لکه د خپلې مینې سره یې چې کوې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ويل يې، څه دې خوښېږي؟**

**ما وېل: يو څو کتابونه، له خلکو ورک ادرس، ته، او د باران د څاڅکو شور.!**

❀↶

**هيڅکله هم د ماتو او تيروتنو له امله مو مه ناهيلي کيږئ!!!**

**ځکه ستاسو همدا ماتې او تيروتنې دي**

**چې ستاسو د تل پاتې او هميشنۍ خوښيو او برياوو لامل ګرځي**

❀↶

**له هغې اولې شپې،له هغه وخته چې**

**کله مې تۀ ليدلې يې بيا مې مينه پيژندلې**

**لۀ همغې اولې شپې  مخکې مړ  وم.**

❀↶

**ايا تاسو داسې يو څوک لرئ چې لاندې جملې درته کاروي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سکون شي.

ډوډۍ دې خوړلې ده؟

کله چې کور ته ورسېدې يو ميسج وکړه.

په ځان دې پام کوه.

ايا کافي پيسي لري؟

ايا غواړې چې مرسته درسره وکړم؟

ايا ته مطمئن يې چې ښه او جوړ يې؟

که ماته دې ضرورت وه؛ نو همېش دې په خدمت کې يمه.

ډېره لږه هڅه هم د زيات ارزښت وړ ده.

دا د دې ښودنه کوي چې يو څوک څومره تاسو باندې پام کوي

❀↶

بدې ښيراګانې له خولې وځي ستا سفر ته مې

سترګې نور په ډېرو کتو سترې شولې ور ته مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تلې؛ زما د چیغو دې ذره پروا هم ونکړه

لږ خیال به دې کړی و د مات زړګي پرهر ته مې

23/12/1401

داسې دې رامات کړلو باور خو څه بنګړی نه دی

اوس که ملایکه هم شې، نه راځې نظر ته مې

هیڅ هم ملامت نه یې، ما خپله په خپل ځان کړي

ته لایق د پښو نه وې، راپورته کړلې سر ته مې

نه وایم، په ده پسې به تکی بد هم نه وایم

تیتې سترګې پاتې یم خپل باور ته مې

❀

سخته نه

البته دردونکې ده !

چې له ډېرې بې کسی دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تولې خبرې له خپل**

**ځان سره وکړې ، بې غږه ماته سې**

**او هيڅوک پوه هم نسي ...؟ 😔**

❀↶

**او زه هغه ړنګه څهره شوم**

**چې خاص ستا د مخ هنداره مې رغولې شی**

❀↶

**ته مې چې ولیدې،**

**ومې ویل،**

**ژوند هم څه يو ښکلی خوب دی...!**

❀↶

**غلي يې وخندل او بيا يې ووې،**

**وضيغت دنيا ده، جنت نده...!**

❀↶

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بی غږه خبرې

**کله کله مې زړه خفه شي**

**نا هيلې شم**

**وايم نور نشم کولی؛**

**مګر.......**

**يو څه مې بېرته هڅوي:**

**چې ته الله لرې**

**او الله دې هر څه لري ♡**

**سل کاله وروسته به، د هېچا هم په ياد نه وي چې،**

**تا د خلکو د خبرو په وجه، خپل ارمانونه قتل کړل..!**

**او خپلې فيصلې دې بدلې کړې، شايد ستا څهره به هم د چا په ياد نه وي،**

**لنډه دا چې، دا ستا ژوند دی او الله تاته درکړی،**

**هغه څه چې ته پکې خپله کاميابي وينې،**

**او ستا ژوند پرې رنګينيږي، په همغه لاره لاړ شه..!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک هېڅکله له چا راضي شوي ندي.

❀↶

که ريشتيا درته ووايم،

په ژوند کی مې د حوشحلي په نوم هيس پاتې ندئ

د حپل د غم دپټولو په خاطر په هر سه کی د حپل حوشحلی کوشش کوم،

مګر د ننه چی زه سومره يوازئ يم

په دی يوازئ زه خبر يم.

❀↶

مونږ دومره په مينه کی ډوب وه،

چی تر سهار به مو شپي ورته سبا کولی، خو له ده، نه وو، خبر چی دا ټول يو تمثيل ده.

❀↶

،ټولي اړيکي په خيانت نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بی غږه خبرې

**بعضی هلکان او انجوني حتا د حلالي نکاح لپاره د شپې خپل رب ته ژاړي!**

❀↶

**اړيکې زړه کې جوړيږي،**

**په خبرو سره نه.**

**ځيني د زياتو خبرو وروسته هم نه خپل کيږي،**

**خو ځيني خاموشه چپ وې مګر خپل وې..**

❀↶

**دوه زړه درېويشت کال نه،**

**زما دژوند**

**هره شېبه له سلګيو سره تېره شوې؛**

**بغير له هغو**

**څو شپو چې ستا په خوا کې اوسېدم.**

↶❀

**موږ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هیلو په فریب کې.

ځومره عمر وباېله

❀↶

## زه کله کله د شپې

ناوخته د کوټې کړکۍ ته ناست یم

او حیران یم چې دا خلک چې

د شپې ناوخته ویښ وي په

سړک موټر چلوي خوب نه ورځي؟ دوی هیڅکله دا فکر نه

کوی چې شپه د خوب لپاره ده.موږ ولی کار کوو؟

او ځینې بیا داسې هم شته چې د حالاتو له امله یا شاید د

خپل ځان له امله پیاده رو کې آرام خوبونه کوي.په دوی

خو موټرو شور او اوازونو نه دي اغیزمن شوي؟

او د مخامخ وادنۍ کړکۍ کی یو رڼا راځي . داسې داسې

ښکاري چې اوس چا خوب نه دی کړی!نو آیا دا نورې

کړکۍچې نه روښانه کیږي تر شا یې خلک ارام خوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي!هو مګر يو څوک کيداي شيي د بې خوبۍ له امله خپل موټی بدل کړي.چی دوی په کوم مصبيت اخته دي؟

زما په شان يو څوک به وي چی خالي کوڅه کی له کې له کړکۍ بهر تکيه کوي.د نورو کورونو څراغونه ګوري او له ارام چاپيريال خوند اخلي. هغه کسان چې په دي فکر کی وي چې په دي وخت کې به د خدای په ذکر  مشغول  وي او هغه کسان چې له اوږدې منډې وروسته به په ارام ويده  وي  هغه کسان چې انتظار  دسهار  کوي او داسې چې ارمان يی کوي اوږده شپه .او يو  څه خاص شايد زما په  څير ډير خاص وي څوک چې

د دې ټولو  په اړه فکر  کوي

زه فکر کوم چې شپه  د ورځې په پرتله ښکلي ده دا ارامه ده زه د خلکو سره په ځانګړي ډول د دوی چلندونو سره کدوډ  يم نه پوهيږم چی ولی شايد زه عجيبه يم هو شايد ډيری خلک  ووايي چې زه عجيبه يم.

❀෴

## ته چې راځې؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بی غږه خبرې

**دکتاب پاڼه به اوښتې وي**

**ډېر کلونه به تېر شوي وي مابه دژوند درېيم فصل لوستلو ته راخيستی وي،**

**دجمود لفظونه به ويلو ته بلهاا ډېرې کيسې ولري اظهار د درون به يې ژباړلی وي،**

**ته چې راځې؛**

**څوک به انتظار نه وي انتظار به دپای ټکی موندلی وي،**

**څه به هيلې ټوکېدلي وي څه به اميدونه قطع شوي وي،**
**زمان به دحيرت کميس اغوستی وي او ما به په اغزنه لار مزل پيل کړی وي.**

**ته کله راځې!؟**

**هغه وخت چې موسم به ياغي شوی او هوا به ناتوانه ديادونو د راوړلو وي.**

**زړونه دمينې دګفتاره ستړي کيږي او ماتيږي**

**تصور نوي ځلا دمحبت دکهکشانه غواړي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته چې نه يې؛

زما د درد په ګېله څوک پوهيږي؟

زما چوپتيا ته څوک غږونکې ژبه ورکړي؟

څوک به درد دبېوسی راسره وڅکي؟

څوک به د ناآشنا سفر بار ته اوږه راوړي؟

ته چې راځې؛

ما به دغزل قانون زده کړی وي دشعر تږي ګلابونه به اوبه وي

ټول زړه تنګي به يې لوستلو ته راغلي وي

او شعر به ستا دنوم حروف کې ختم شوی وي

ته چې راځې؛

په مثال لکه هوا راشه

او بيا په وجود کې لکه ساه توی شه...!

❀ں

## خبرې»

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پیغام راغی،د تیارې بندې کوټې خاموشي آن د موبایل کړنګ ماته کړه،کهٔ ریښتیا ووایم کله خو انسان بیخي د لیکلو او ویلو څهٔ چې د اورېدلو او لوستلو حوصله هم نهٔلري!**

**ـ سلام،ښنګه یې!؟**

**ع س ښهٔ یم!**

**ـ (ع س) ولې دومره لنډ؟**

**تهٔ خو پرې پوهېږې نور یې څهٔ کوې ضرور نهٔ ده چې تر وبرکاتهٔ یې ورسوم!**

**ـ ډېر غُصه یې نو...**

**تاته خو نهٔ یم څهٔ!**

**ـ پرېږده بس،تا ټول عمر همدغسې تېر کړ،د غمجبې میراجانه!**

**شېبه وروسته مې ورته ولیکل:**

**ښنګ به احساس د چا د اوښکو وکړي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## چا چې په ژوند چرته ژړلی نه وي!

ببرته يې ليکلي وو: زه خو يم،تل دې پوښتنه کوم،تا خو له هغې وروسته آن يوه ورځ هم د ياد په حافظه کې رانه‌وستم!

ما بيا:

زه خو دې د سترګو په ليدو پسې روان ومه

ورکه دې دُنيا شي زه دې څه کوم دُنيا سره!

ته نه پوهيږې،شتون يې شتون ته ويلی؛اصلاً يوازې ته نه،له ما سره خو نور خلک څه چې آن ځان هم په سمه مانا نه‌شته،نه پوهيږم چې زه هم دلته يم که نه زما د بار،بار وژل شوي وجود ارواه داسې سرګردانه سر په دېوالونو وهي،خو يوه خبره مې ډېر زوروي او هغه دا چې له مرګه وروسته ژوند بيا پای نه‌لري او که داسې وي نو زما ارواه به په يو لايتناهي ژوند کې همدا چغې وهي چې:

زما د زړه ناکاره رنځه

نه رغېدی شې نه دې حال وئېلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



❀↶

**ګل پلورنکې په معصومه څېره ووېل،**

**اوس مې کار ښه نه دی،**

**ځکه اوس د پخوا په شان**

**څوک یو له بل سره مینه،نه کوي،**

**او نه ګلان ورته ډالۍ کوي**

❀↶

**ځینې وختونه دا زموږ خپلې هیلې دي**

**چې موږ مایوسه کوي**

Sometimes it's our own

Expectations which disappoint us

❀↶

**وایي ژوند هله ښکلی شي چې کله پوه شو څه باید له پامه وغورځوو او څه باندې تمرکز وکړو...!**

↶❀

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځينې وخت د يو چا خپل انتخابونه تر ټولو سترې تېروتنې بلل کيږي.

❀ೋ

انتظار ستر اذيت دی!

هغه که موبايل په لاس د چا د پيغام وي، په درشل ولاړ د چا راتلو وي، که په بستر پروت د خوب وي او يا هم که له ژوند ستړی د مرګ وي.

ೋ❀

نورې ټولې مرغۍ راغلې

له هغې کوترې پرته

چې مـئينه په کوم باز شوه

بام يې پرېښوو!

❀ೋ

ده تلليو خلـګو

په خوب ليدل، يو دردونـــــکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملاقات دی

ځينې وخت به دې زړه له خبرو ډک وي؛ خو چا ته د کولو حوصله به يې نه وي درپاتې، حتی له ځان سره به يې د راټولولو څه لاره چاره هم نه وي در پاتې، چې خپلې خبرې په لفظونو کې راونغاړې او نورو ته يې په ليکلې بڼه وړاندې کړې، څو د زړه بوج دې سپک شي.

لنډه دا چې کله کله په انسان د زغم دنيا دومره رامحدوده او تنګه شي، چې بيا ترې د وتلو فرصت او لار هم نه مومي، چې ترې راووځي او خپل حالت ته د بدلون په صورت کې له خپل عادي ژوند څخه خوند واخلي.

*. ژوند وکړه

. د هغوی لپاره•••

. چی ستا په هره خندا خوشحاله کيږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا خندا هم

لکه دردېدلې موسيقی

انسان يې په اورېدلو پښېمانه شي

❀ٮ

له ما مه خوابدې کېږه ...

نه مغروره يم ...!

نه بې احساسه ...!

يوازې ستړې يم !

هو ستړې ، لدې بې ځايه اعتمادنو څخه ...

له همدې خاطره مې زړه ته غټ قلف اچولی ...

❀ٮ

کاش چې ته زما شې!

يواځې غواړمه هغوي ته ثابته کړمه

چې وايې مينه کې کاميابي شتون نلري

❀ٮ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيني وختونه زړه دومره...!

را ډک شي چې مخکې له...!

خبرو دې سترګې ډنډ ودريږي.!

❀↶

فاصلې هيڅ ستونزه نۀ ده، ستونزه د انسانانو ده.ځکه چې مونږ له لمس کولو پرته پۀ مينه نۀ پوهيږو. او مينه پۀ جسم نه پۀ زړۀ محسوسيږي.

❀↶

له ټولو هغو خسته او ستړی يم، چې «بيرون» پای ته رسېدلي خو د «ننه» دوام لري...!

❀↶

کوچنی زړه

څومره ګيلې خدايه.

↶❀

منم چې د سترګو پۀ وړاندې مې نه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر،

هر چرته يې ځم،

او

هر څه چې وينم،

تا پکې وېنم صرف تا

❀

د مينې وروستی ليږل شوی ليک تر ډېره خالي و،

څو اوښکې پرې توی وې

او اخېر کې يې ليکل شوي و: "بل ځل به د خدای په مخکې سره وينو" .

❀

عجيبه انسان يم !!!

څوک نه رانه هيريږي

خو چي زه به چاته ياد يم او کنه

❀

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هر انسان له ماتې وروسته هغه پخوانی» کس نه دی**

**❀↶**

**د یوې وړې!**

**خاموشي تر شاه ډېرې کیسې وي ګوره**

**❀↶**

**زړه تنګون لهٔ نهٔ پاملرنې غوره دی، پهٔ ځانګړې ډول د داسې شخص لهٔ نهٔ پاملرنې چې تهٔ تر اوسه ورسره مینه لرې او هغه دې پهٔ کیسه کې هم نهٔ وي، هر څهٔ ته د پای ټکی کیده، زړه تنګون او افسوس دې لهٔ**

**بیا-بیا زړه ماتېدو غوره دی.!**

**❀↶**

# لاړې

**پرته له حدای په اماني**

**فکر دی نه کوو**

**چې پرته له تا به په غذابه اخته کیږم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر دي نه کوو

چې ستا په يادولو به يو څوک په راوني ناروغيو اخته کيږی

فکر دی نه کوو

چې ستا هيرول مې د وس کار نه دي

فکر دی نه کوو

چې ستا سره د هري خاطري په يادولو به ماتی کيږم

فکر دی نه کوو چې تا حو زما سره ژمنه کړي وه

قسم دی کړي وو چې تل به ستا يم

ګلابو فکر دی نه کوو

که خپله ژمنه ماته کړم

نو حدای ته به څه ځواب ورکوم

فکر دی نه کوو که يو څوک بي دليله پريږدم

په هغه به څه تيريږی

فکر دي نه کوو  اې! ژمنه دي نه وه کړي

چې تل به ستاسره وم هغه تير وختونه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بی غږه خبرې

یو ځل هم یاد نشول

ستا مېنه ژمني قسمونه ټول دروغ وو

ستا سره مې ټولي خوشحالي تېرلي وي

اخير هم لاړې

پرته له دې چې حپل جرم دي اختراف وکړي

حو زه مې حداى ته ملامته نه یمه

زه مې اوس هم په خپلو ژمنو والاړ یم

زما به ته یادیږي یاره

که د جنت په منرو والاړه یمه

بنه شوه چې ستا له لورې وشوه

چې ملامته درته زه نشومه مېنه

❀↶

نه پوهیږم ولی.!

پدې ازاده نړۍ کی زما زړه تنګ او خفه ده ای پوهیږی.؟

دا لیکنه چی مې لولې، له تاهم خفه یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❀↶

**نه وُم خبر چې ستا جدايي به دومره قاتله وي!**

**پهٔ يوهٔ تګ دې زما مسکا، زما خندا، زما خوښی، زما هيلې،**
**زما خوبونه ټول ووژل.**

↶❀

**زه چې هر وخت ناهيلی شم،**

**د ژوند د سختيو مزل مې ستړی کړي او يا د شته ستونزو**
**او حالاتو له وجې بې انګېزې شم، ځانته په دې يوه جمله**
**ډېره لويه انرژي او هيله ورکوم، چې:**

**(سخت رول تل تکړه لوبغاړي ته ورکول کېږي.)**

**نو دا اوس تاسې پورې اړه لري، چې ځانته څه ډول فکر**
**کوئ**

❀↶

**سمه ده چې ما ...**

**په خپلو احساساتو پښه ايښې ده؛**

**خو اوس هم ...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماغومره مينه لرم درسره.

❀↶

څه د سترې ژوند کېسه رايادوې؟

د ميسج کړنګ شو، الفاظ يې څه داسې ليکلې وؤ!

د مجنون بچيه!

ستاسو ليکنې له درده ډکې دي، له ورايه پکې يوه ستره ناهيلي ښکاري، داسې انګېرم چې ټوک، ټوک شوی يې!

زه دې له څو کالو راهيسې تعقيبوم، څو ځلې مې هڅه وکړه چې ستا له کيسې او داستان خبره شم، خو نن مې زړه غټ کړ!

کولی شې درد مو راته بيان کړئ؟

ځواب مې څه په دې الفاظو ورکړ! ما ورته د بل چا شعر يو ټوټه بيتونه رابېل کړل:

غم به وژلي وې نازکې جنۍ

شکر وباسه چې مينه نه يې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا مې ټینګار وکړ چې زما خلص ځواب له دې بیت څخه اخیستلی شې خو هغې ټینګار وکړ.

نو په داستان ویلو مې ورته پیل وکړ.

په وروستیو کې یې دا کرښې راغلې چې ؤ دې ژړولم.

نور مې داستان په نیمایي کې بس کړو

❀

ژوند دوام لري،

که ته وخاندې یا وژاړې.

په ځان دې هغه غمونه مه باروه کوم چې ګټه نه کوي!

خپګان د پرون غمونه له منځه نه وړي خو د نن خوشحالي درڅخه غلا کوي.

نو خوشحاله اوسه!

❀

منم چې د سترګو پۀ وړاندې مې نه یې

مګر،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هر چرته يې ځم،**

**او**

**هر څه چې وينم،**

**تا پکې وينم صرف تا**

❀ه

**مورې هېڅوک نه غلطوي، خپل ځان پخپله تېر باسو.**

**خپل لاسونه پخپلو سترګو کېږدو او بيا د تيارې څخه شکايت کوو او اوښکې څاڅوو.**

❀ه

**چا چې په**

**قصده له لاسه ورکړې يې**

**مه پرېږده**

**چې په تصادفي ډول لا حتا ستا د ليدلو**

**خوب ووينې..**

ه❀

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د نړۍ**

**له عجايبو مې يو تـه خوښېدلې.**

❀↶

**نپوهېږم، چې څه به وشي؟**

**او که رښتيا ووايم نور راته مهمه هم نده چې څه کيږي**

**زه مې نور د ژوند له ټولو احتمالاتو ستړۍ يم.**

❀↶

**: کله يې چې له هغه پوښتنه وکړه**

**څرنګه دې په دومره ګڼه ګوڼه کې هغه پيدا کړه !؟**

**ويې ويل کومه ګڼه ګوڼه؟!**

**ما له هغې پرته هيڅوک نه دي ليدلي.**

↶❀

**که ووايم چ...!!**

**يادېږې مې نو شايد بيا**

**(مغروره)شې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



❀↶

**يقيناً هره اوښکه**

**يو نايابه زخم دی، که چيرې څوک**

**ذهنً ګډ وډ و؛**

**را سم يې کړئ؛**

**شايد ستاسو**

**دا يوه مرسته دې**

**يو آنسان ژوند وژغورې.!**

❀↶

**د زړه خبرې مو مه پټوئ!**

**ځکه چې پهٔ ويلو يې فيصلې،او په نهٔ ويلو يې فاصلې رامنځته کيږي.**

❀↶

**ژوند**

**يوازې يو خاطره ده**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ښه ژوند وکړئ**

**او خوږې خاطرې پرېږدی!**

❀↶

**زړه هم ډېر ضدی دے**

**تل هغه څه غواړی چې زموږ**

**قسمت کی نه یی**

❀↶

**مینه څه ته وایې!**

**هغه څوک (الله)چې د سمندرونو مالک دی،**

**هو د ستاسو یوه اوښکه خوښوي.**

**ژباړه**

❀↶

**کله کله مې زړه غواړي، زنګ درته ووهم او**

**درته ووایم چې د دې نړۍ خلک مې ډېر ځوروي، مګر بیا**

**رایاد شي، چې ته هم یو له همدوۍ څخه یې...**

↶❀

مینه خو ډېر لرې خبره ده

چا چې زما پشان

انتظار هم درته وکړ

نو بیا ووایه

❀↶

هغه صلی علیه وسلم چې د پاتې کیدو وعده یی کړی وه او تر ټولو لومړی وو.

ژباړه

↶❀

او مه شرمیږه

چې د هر چا په وړاندې

ورته خپله مینه ښکاره کړې.

هغه تر هر چا مهمه ده...! ♡ 🌎

ژباړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



❀↶

## موسکا_نیازی څه وایی؟

**پام مو کړی؟**

**څوک چې له موږ سره رېښتنی مینه لري عجیبه جاذبه لري حتا که موږ ورسره مینه هم نه لرو احساس او مینه یې حس کولې شو.**

**مینې ته یې په درنه ګورو، پر احساس یې ملنډې نه وهو.**

**حتی وروسته له کلونو یې هم که مسج ترلاسه کړو یا یې غږ واورو، زړه مو پرې ښه کیږي او څېره مو موسکی کیږي.**

❀↶

**ژوند هغه وخت ښکلی شي/ښکاري.**

**کله چې یو څوک ستا له امله وخاندي/خوشحاله وي.**

❀↶

**په ژوند کې هیڅ کله هم تسلیم نشی**

**ځکه چې د هرې ثانیه په تیریدو سره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تاسو خپل هدف ته نيږدې کيږي**

❀↶

**ارزښت؛**

**يانې دا چې ژړا مو په موسکا بدله کړي،**

**درته ووايي:**

**ليونۍ زه خو يم، ته ولې انديښنه کوې.**

**باور وکړئ**

**دا خبرې دومره ډاډ لري، فکر کوې، چې ټولې نړۍ ځواک دی تر ځنګ دي...!**

❀↶

**هیڅوک هم ستا د اوښکو ارزښت نلری..!**

**که چاته له زړه ګران يی..!**

**په هيڅ دليل**

**د په سترګو کی د اوښکی سبب نشی کيدلی**

❀↶

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ژباړه

زه یو لوړ هڅاند یو غښتلی یو ډېر ضدی انسان یم خو هر ځل يې له یادونو سره جنګ کوم ژارم

❀↶

ستاسو زړه ته تر ټولو نږدې خلک څوک چی ستاسو د مزاج بدلون ته د لیکنو څخه پام کوي دا هغه هنر دی چې یوازي یو څو يې ماسټر کولی شي..!!

↶❀

کله په سره ووینو نا نو ته می ټینګه غیره راکړه تر هغی می درنه بیل نه !کړي تر څو چې ټول تېر دردونه زما روح پریږدي .

↶❀

زموږ ژوند له ښکلو شیانو پیښنو خلکو او حالاتو څخه ډک دی... خو ځکه چی بدلون د ژوند ،کال هیڅ شی په خپل حال نه پاتی کیږي... هغه څه چی موږ نن ورځ خوشحاله کوی ممکن پای ته ورسیږي او هیڅکله بیرته نه راځي ، او دا لکه چی موږ ته تاییدوي چی پدی ژوند کی هیڅ شی دوام نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کوي نه خوند ، نه خفګان ... نو د ژوند له هري خوری شیبی خوند واخلئ، له تېر وخت ګټه واخلئ، په حال کی ژوند وکړئ، خوشبین اوسئ او راتلونکي ته پلان ولرئ**

❀↶

**هڅه که لویه وی یا کوچنی زه د هر هغه څه ستاینه کوم چی زما لپاره ترسره شوی**

❀↶

**انتقام نه اخلم خو هغه کس چې څنګه وو، بیرته یی راګرځوم".**

❀↶

**د هر پای تر شا یو جلا پیل شتون لری د هری شپی تر شا یو ښکلی سهار وی د هری بدی تجربی تر شا نیکي او یوه پټه مهرباني وي د هری وچکالۍ تر شا یو خوندور پسرلی وی ځکه چی یو نوی سهار دی ...د لمر تودو تارونه دي د زړه په پلو ولګي مهاجر مرغان دي د سیني سلطنت ته راشي .د روح په انګر کې دي نایابه ګلونه راشي .د هر څه خپل وخت وي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



❀↶

ربښتینی اریکه هغه ده چی ملګرتیا د تړلو دروازو تر شا په یوه صمیمي اړیکه کې شي .د هغي اړیکي ښکلا و مومئ چی بی ساری د دواړو دنیاوو غوره والی پکی نغښتی وي د ملګرتیا سکون او د رومانیت شوق پرېږده چې د میني کیسه دي په زمزمو او غلا شویو سترګو شي .چی هره شیبه پکی شریک شي یو راز شي.

❀↶

سقراط وایي

ولی نه ګورم چې زه د مور په حجر کی یم

شکسپیر وایي

په نړۍ کی هیڅ بالښت د مور له غیږي لوړ نه دی

او هغه خلیل جبران وایي

مور په ژوند کې هر څه ده په غم کی تسلی په مایوسی کی امید او په کمزوری کی قوت دی.

جان جک روسو وایی

(c) ketabton.com: The Digital Library



که نړۍ په لاس کې وای او زما مور په لاس کې وای ما به خپله مور انتخابوله.

زړه ته را نږدي د جبران خلیل جبران مقاله

مور په حقیقت کی د هر مرض دوا ده او د الهی کمیسیون انعکاس دی مورد فرمان شپي ته ورته ده، د هغي له طرفه د ټولو هیلو د پوره کولو بلنه ده.

❀↶

او کله چی ستا نوم راشي. زما زړه زما د سترګو په وړاندي الوځي. څنګه درته ووایم. ځکه چی زه تا یادوم....!!

❀↶

ځینی انتظارونه په ژوند کې ډیر ناوخته وي

↶❀

څومره دردونکي شپه به وي په کومه شپه چی موبائل ته بار بار ګورو چی له هغي خوا کوم مسج راغلی وي خو نه کیږي؛ نه مسج راځي او نه زنګ راځي چې وشي، باور له ټولو هیلو سره یو ځای ماتیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❀↶

**او کله چی ته و خاندی ... ټول دردونه ورک شی**

↶❀

**بیا دې د نه ټینګولو تهمت لګوي .هغه څوک چې ستا ټولې کوتی پری کړي .**

↶❀

**! څوک چی مینه درکوي !عزت درکوي !په هوا کېږه مه زړه یی وساته او مینه ورکره**

↶❀

**کله چی تاسو په غلط ریل ګاډی کی روان شئ هڅه وکړئ چې په لومړي تمځای کې سم شئ ځکه چی څومره فاصله زیاته وي، هغومره یې د بیرته راتک لګښت زیات وي**

↶❀

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وخت هر څه رغوي

خوا دا نیم رښتیا دي او نیم دروغ دي وخت هر څه نه رغوي ..! دا د څه په اړه دي. د وخت په تیریدو سره د درد زغمل زده کیږي په یوازې ځان ورسره مقابله وکړئ، تر څو ورسره عادت شئ... د هر څه ساتونکی مه اوسه... د پریښودلو شیان دي... او کارونه باید ترسره شي ... څومره خلک په حقیقت کی په ځمکه ژوند کوی خو د یو څه خفګان احساس له امله بندي دی او خوشحالی او پریشانی او غصب او نفرت او مینه له همدی امله ریښتینی آزادی د احساس آزادی ده... خپل احساسات آزاد کړئ او خپل روح ازاد کړئ... محدودیتونو یوازې موږ ته درد زیات کړ.. خو وخت ډیر په چټکۍ سره روان دی

❀ه

## پیل

د هر پای تر شا یو جلا پیل شتون لری د هری شپې تر شا یو ښکلی سهار وی د هری بدی تجربی تر شا نیکي او یوه پټه مهرباني وي د هری وچکالۍ تر شا یو خوندور پسرلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وی ځکه چی یو نوی سهار دی ...د لمر تودو تارونه دي د زړه په پلو ولګي مهاجر مرغان دي د سيني سلطنت ته راشي .د روح په انګر کې دي نایابه ګلونه راشي .د هر څه خپل وخت وي.

مینه یوه کلمه پاتی کيږي تر هغه چې يو څوک ورسره راشي او معنی يې ورکړي

د شپی خوب نه کوم د ورځي ارام نه کوم د خپل صحت پروا نه لرم او هر څه په زړه کې پټوم ..وخانده.

هغه پاملرنه چی موږ يې د ضعف په وخت کي مومو له زرو مینی جملو ښخه ښکلې ده.

(C) Ketabton.com: the Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر ته د روح تر ټولو نږدې او د زړه تر ټولو ګران یی نو هغه څه چی ته یی تکلیف راکوي، او ته د الله له خوا د هغه څه لپاره چی تا یی تېر کړل

❀ↄ

بس یو تصادف وو او بیا راته ژوند جوړ شو

ↄ❀

سترګی هغه چاته رازونه وایی چی دوی یې ستاینه کوي

❀ↄ

په درد کی یی پټ کړه یم خدایه سترګی می پرسېدلي دي او نه یی غواړم.

ↄ❀

څوک چی دی په درد کی پرېږدی انتظار مه کوه چی ستا د دردونو غږ واوري.

ↄ❀

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بی غږه خبرې

دا نړۍ ډېره بده ده ډیره دردونکی ده ډیره بی خونده ده ډېره بي رحمه ده ډېره غمجنه ده تل می پکی دلچسپی له لاسه ورکړي

❀↶

نه می هېرېږي دا ورځی به میښي په یاد وي، له خدایه پرته بل څوک نه وو.

❀↶

اړینه نه ده هر څوک چی ډیر خوب کوي، سست وي لامل يې کېدای شي له دردہ تېښته وي.

❀↶

هغه خلک چی ډیر خوب کوي لټ خلک نه دي بلکي هغه خلک دي چې وږي دي ځورېږي، رواني فشار لري او په خوب سره له خپل حقيقت څخه تښتي.

❀↶

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بی غږه خبرې

**یوازی خوب نه کوم افسوس راسره ویده کیږي او زما ویره**

**او زما ځان ملامتول**

❀↶

**په هغه څه مه حفه کیږه چې**

**له تا لرې شوي دي**

**لا هم ډېر څه پاتې دي**

**دا معنی نه لری چی ته هر وخت خفه یي**

❀↶

**او د جمعې په سهار ،"ای خدایه ,**

**ما ته په هر هغه څه کی برخه راکړه**

**چې ما ورسره مینه درلوده**

❀↶

## که څه هم

**ته نور زما تر څنګ په فزیکي توګه نه یې،**

**په هره خاطره کې تا وینم👀 😔**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زه د زړه په هر ټک کې تا احساسوم.**

**زه تا په هره سندره کې اورم.**

**زه تا په هر فکر کې پیژنم.**

**زه په هره خوښۍ کې له تا سره خاندم.**

**زه په هر غم کې درسره ژاړم**

**که څه هم ته نور زما تر څنګ نه ځې**

**ته هیڅکله واقعا ما نه پریږدې،**

**ځکه چې زه د لارې په هره مرحله کې تا سره شتون احساسوم**

**ته هیڅکله واقعا نه یې تللی 👀😟**

**_نوټ_:**

**ځینې وخت د چوپتیا درد تر الفاظو ژور وي**

**له هر چا څخه د مایوسۍ تمه لرم**

**زه تل د هر چا په ملتیا کې یوازې یم**

**د خپل فکر او ویرونو څخه سترې یم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له خپل ځان او له خپلې چوپتيا څخه ستړې يم**

**هر کله چې يو څوک راته**

**د هيلو پوره کېدو دعا وکړی.**

**نو سترګو تا مې ودرېږي**

**ځکه چې زما هره هيله ته وی!**

**کله کله ګوتې هم د دار مستحق وي**

**ځکه چې هغې د هغو خلکو لپاره ښکلي شيان ليکلي وي چې څوک يې مستحق نه وو.**

## ژوند دې ولید!

**ځان دې ولید!**

**خپل قسمت درته معلوم شو!**

**زه در یاد شوم!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماله راغلې!

خو په داسی وخت کې راغلې!

چې زه هغه پاتې نه یم!

په رښتیا هغسې نه یم!

چې کوم زه تاپیژندمه !

هغه زه زمانه ورک دی!

زما زړه زمانه ورک دی!

لیونی درپسې گرځم !

په رڼا کې!

په تیارو کې!

په بازار کې!

په کوڅوکې!

په نشو په تماشو کې!

هغه زړه چرته کې گورم!

سر وهلی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بی غږه خبرې

بر وهلی!

لیونی ورپسې ګرځم!

که مې وموند!

نو وعده ده!

هغه وخت به دې خبر کړم!

که دې زړه وو!

که وزګار وې!

که راتلی شوې!

بیابه راشې!

چې زاړه وختونه یاد کړو!

خپل خواږه یادونه یاد کړو.

ص.صابر

❀ه

ومنه"

(c) ketabton.com: The Digital Library



که زه دې استاد وی نوو تاته مې یوازې د درک کولو درس ویلو "

تیریادونه یاخاطرې ډیرې جالبې وي.!

کله کله دهغه ورځو په یادولوخاندو چې ژړل مو.!

اوکله کله د هغه ورځو په یادو لو ژاړو چې خندل مو....!

1396.6.2

خلکو ته سم غوږ شئ،

او په خبرو یې سم غور وکړئ

بعضې زیاتره وخت د زړه خبرې په ټوکو کې کوي.

عِشق یعنې؟

چې یو څوک دې ژوند ته ډېر ناوخته راشي او ډېرته ژر ولاړ سي؛ ته بیا کلونه،کلونه د هغهٔ لهٔ کوچنیو خاطرو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساه اخلې،ویښېږي او ویدۀ کېږې،قدم وهې او کۀ ساده یې وواېم بیا هېڅکله د پخوا پۀ رقم ونۀ اوسېږې!

❀↶

له هغه چا سره مینه وکړه چی تا غواړي، څوک چی ستا انتظار کوي چې په لېونتوب کی دی هم درک کوي څوک چی مرسته درسره کوي او لارښوونه درته کوي څوک چی ستا ملاتړ دی ستا امید دی پر هغه چا مئین شه چی له جنګ وروسته درسره خبری کوی

❀↶

لۀ ځینو انسانانو سره نۀ هېرېدونکې خاطرې جوړې شوې وي،کله چې هغوی زموږ لۀ ژونده ځي نو بیا هیڅ لېوالتیا نۀوي چې هغه رقم یا هغې ته ورته خاطرې دې لۀ نویو انسانانو سره تجربه کړو!

❀↶

## کله ناکله

(c) ketabton.com: The Digital Library



مو زړه په شدت غواړي چې ځينو خلکو سره ښې ډيرې خبرې وکړو، همد اوس زنګ ور ووهو او يا ميسج ورته وکړو.

خو بيا له دې سوچ سره غلي کيږو، چې: خدای خبر هغه به خبرې راسره وکړي، که نه. زموږ شتون به ښه پرې ولګيږي يا بد؟

ځينې وختونه مو له خلکو سره همدا خبرې خنډ شي او موږ يې تر ډيره د سوشل ميډيا انلاين اکاونټ ته همداسې ګورو.

د هغه لاسټ سين (وروستی ليدنه) ګورو او هغه ژور درد چې وينو يې؛ يوازې موږ او خدای پرې خبر وي.

هيڅوک دومره مه در ګرانوئ، چې لاړ شي؛ نو ستاسې په ژوند کې له غم پرته هيڅ پاتې نشي.

وګړي مو ژوند ته فقط د يو څه وخت لپاره راځي. ځينې يې موږ ته د سبق راکولو او څو نور د اوږې را کولو په خاطر.

❀ෆ

ستا دا کوږ رفتار زما د څپليو په څېر دی،

قېمت يې زيات،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خو تل زما تر پښو لاندې وي.**

**پنځم موس**

❀↶

**که غواړې ستونزه جوړه کړې، اړتیا**

**نشته چې غښتلی او تر نورو غټ وې، همدا بسنه کوي چې**
**یوازې احمق يې، او**

**په خپل حماقت کلک ولاړ يې!**

❀↶

**دوه د خوښې وړ انسانان يو بل ته نهٔ رسېدل، د بشر پهٔ**
**تاريخ کې تر ټولو ستر اؤ نهٔ بښوونکی جنايت دی.**

❀↶

## مور مخامخ ناست وو.

**ما د ميز نه کيلي راواخیستله**

**تليفون مې ونيوه**

**ودرېدو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د تلو په لور وخوځېدو**

**په تلو کې مې ترې د یو فکر لاندې وپوښتل.**

**څو کلن يې؟**

**مېړوند بې په بې صبرۍ تاؤ کړ، اول يې ساعت ته وکتل**

**بیا يې زما سترګو ته په خفګان ولیدل**

**او**

**وئ وئیل:**

**دوه ساعته او څلوېښت دقیقې**

**❀ↄ**

**زۀ د نېرۍ پای ته چندان اندېښمن نۀ یم.**

**"ځکه زما نړۍ پۀ ځلونو، ځلونو پای ته رسېدلې**

**اؤ سهار بیا پیل شي" ☹**

**ژوند بدلون کوي؛ ممکن مینه دې لۀ لاسه ورکړې،نږدې ملګري دې لۀ لاسه ورکړې،د ژوند ځینې برخې دې زیانمنې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي،خو يو وخت پرته لهٔ دې چې ورته دې پام واوسي دا هر څهٔ بېرته راګرځي،بيا مَينېږي،بيا تر ټولو ښهٔ ملګري پيدا کوي او بيا دې ژوند ښکلی کېږي،دا چرخ و پَلک دی،تاوېږي او بېرته راګرځي،يوازې خپل ثبات لهٔ لاسه مهٔ ورکوه او ځان مهٔ بايله،چې سر وي خولۍ ډېرې! 😊

❀↶

هر وخت، ژر ځواب ورکوونکي اوسئ، ممکن ځينې خلک ستاسو د ناوخته ځواب د اورېدو تاب ونهٔلري.

څه بېباکه خلکو ته مو زړونه پېښو کې کېښول

لرې که اوربښته، ارزښتونه مو ارزان کړل

❀↶

پرپرک حِرس ته وويل: مينه درسره لرم!

حِرس وويل: اوس خوب کوُم چ پاسېدم، په اړه به يې خبرې وکړو.

پہ داسې حال کې چ حِرس درې ورځې خوب کوي، او پرپرک درې ورځې عمر لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نقل

ایمل پسرلي صیب لیکلي:

❀↶

د خپلو غلطو پرېکړو پړه پر نورو مه اچوئ هېڅوک پر تاسو داسې څه نه شي کولی چې تاسو يې ونه غواړئ ,,

سم وايي؟

↶❀

موږ تل هڅه کوو، چې په ژوند کې نوي څه لاسته راوړو؛ خو تل مو پخواني شیان بایللي.

❀↶

په هر موبایل کې ځینې شمېرې شته، چ نه ډاېل کېږي، او نه ډېلېټ کېږي.

↶❀

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې زړه موړ شي نو بيا که هر څومره فرصتونه په لاس درشي خو هيڅ په درد نه خوري .

❀ ↶

# کله چې راشې

کله چې ډېر وخت
وروسته راشې
مخامخ به راته ودرېږې
را غږ به کړې
زما به درپام شي
در وبه ګورم،
لږ سوچ کې به لاړ سم
بېرته به لاندې وګورم
تهٔ به حيرانه شې
رانږدې به شې
وبه وايې راغلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بی غږه خبرې

ما پسې نۀ وې خفه

نۀ دې یادېدلم ؟

زۀ به دروګورم موسکی به شم

درته به ووایم

هغه هلک چې تاسره

مینه لرله

هغه درپسې زښت خفه و،

کله کله یې پټ ژړل

کله کله به ځګیرو نیولو؛

هره شپه درپسې مړ کېدلو

اخیر سم مړ شو درپسې

زۀ هغه هلک نۀ یم

هغه مې تاپسې

خاورو ته وسپارولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بی غږه خبرې

،زړۀ مې ډېر څۀ غواړي چې ستا پۀ باره کې يې ولیکم

خو اوس هغه توان، هغه فکر او سوچ نه لرم، چې هر وخت به مې ستا پۀ اړه څۀ لیکل.

بې وسه شوی یم، لۀ ځان څخه مې هیله پرې شوې، داسې ښکاري چې دژوند ستړي

مزلونه مې نور ختمېدونکي دي.

ومې ښښــــه!

❀

کله چې مې په اولین ځل

ولیدی...

ما ئې فکر هم نه وو کړی

چې دا به هغه کس وي

چې وروسته به ورته زه په

وار،وار مرمه...!

❀

(c) ketabton.com: The Digital Library



مينه وکړه!

خو......

له هغه چا سره چې ته ورته ارزښت لرې.

❀ↄ

او کله چی ستا نوم راشي .زما زړه زما د سترګو په وړاندي !!....الوځي .ښنګه درته ووایم .ځکه چی زه تا یادوم

ↄ❀

یوه ورځ به نورو ته یوازې خاطره يې نو اوس هڅه وکړه چې د سبا ښه خاطره شې.

ژباړه

❀ↄ

.نن به ځان ته یادونه وکړم چی زه بس یم او زه يې وړ یم زه د چا تایید ته اړتیا نلرم زه به ځان ته دریاد کرم چی زما په اړه هیڅ بد نشته خلک ډیر وخت بی رحمه وي او زما تري کرکه کیږي .ښوک چې مې له ځانه زړه بدوي، هېڅ مي نه خوښيږي .زه د هغه شیانو په اړه ژاړم چی ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بی غږه خبرې

ناراحته کوي .په سر کی می چی د درد خبری واورم، سخت
مي زړه خراب شي .په اورېدو مي له ذهن وځي، اوس می
هم هر وخت زړه ماتیږي .مګر نن ورځ ، حتی یوازي د دې
ورځي لپاره – زه غواړم دا هیر کړم ما دومره بې ارزښته
احساس وکړ .زه د دي درد مستحق نه یم زه په خپله
پوهیږم چی ښه سړی یم زه بشپړ نه یم مګر زه د هغه څه
ښخه ډیر یم چی هر چا ما احساس کړی.

هغې خبره وکړه
ما نه منله
چې تېنګار يې وکړ
زه شکمن شوم
او چې هغې قسم وکړ
نو پوه شوم چې دروغ وايي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورې تل هڅه کوو، چې په ژوند کې نوي څه لاسته راوړو؛
خو تل مو پخواني شيان بايللي.

❀

تاسې هېڅکله نه پوهيدئ /نه پوهېږئ
چې ځينو خلکو په څومره سختو حالاتو کې تاسو سره مينه
کوله /کوي يې

❀

... تاسي پوهيږې ، له ژونده
کله ( زړه ) توريږې ؟! هغه وخت چي ته د يو چا لپاره
انتظار کوي او هغه ستا لپاره وخت نه لري

❀

ته مې نن له
خدايه
غوښتې !
احساس مې داسې درلود !

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لکه !**

**تېوله دنيا چې ځيني غواړم..!!!**

❀↶

**او زه هيله لرم چې يوه ورځ زه په خوشحاله سترګو آسمان ته ګورم کله چې زه په اخر کې ښه يم نه خفه يم نه زيانمن يم او نه ورک يم.. کله چې ورځ د سکون چوپتيا او ښې شيبې څخه ډکه وي. کله چې زه په دې نړۍ کې خپل سم ځای ومومم...**

**ژباړه**

❀↶

**سفر وکړئ او هيچا ته مه وايه د رښتيني ميني کيسه وکړه او هيچا ته مه وايه خوشحاله ژوند وکړه او هيچاته مه وايه .خلک ښکلي شيان ورانوي...**

❀↶

**يو وخت به هغه څه ومومو چې په لټه کې يې يو يا شايد نه وي. شايد موږ به له دې څخه لوی څه ومومو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه له هغو خلکو سره مينه لرم چې ما سره د کائناتو په اړه خبرې کوی .ذهن مې پراخ کړئ خپل خوبونه مو راسره شريک کړی يو نوی شی راته زده کړه په ذهنی سفر مې بوئه.

هغه ملګری وساتئ چې ستاسو خفګان ته پام کوي، د هغه چا ستاينه وکړئ چې تل ستاسو پوښتنه کوي

خلک وايی ښه زړه تل خوشحاله وي. "د خو زما په اند ښه زړه هم ډير وخت ځوريږي ځکه چې له نورو څخه يوازې د ښو تمه لري.

خپل ملګري ښه انتخاب کړئ .هغه څوک غوره کړئ چې هيڅکله قضاوت نه کوي څوک در سره مينه لرى چې ته څوک يی او څوک چې ستا په ټولو نيمګړتياوو پوهيږي او هغوی پاتی کيدل غوره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❀↶

هغه څوک و مومئ چې ستاسو په شتون وياړي، ستاسو له لاسه ورکولو څخه ويره لرى ستاسو لپاره مبارزه کوى ستاسو ستاينه کوي، ستاسو درناوى کوي، ستاسو پاملرنه کوي او تاسو سره بې کچې مينه لري.

❀↶

ګرانښت لۀ منځه نه ځي، خو ځينې ستونزې وي چې انسانان سره جدا کـوي.

پۀ اړيکو پاللو کې سختي مه کوئ، د ملګرو مجبوريتونه او محدوديتونـه درک کړئ، هر څۀ د خپل ځان پۀ خوښه مه غـواړئ او نـۀ کېـږي.

❀↶

: که چيري هغه مي په

نصيب شوي وه ...!

نو مابه د دنيا د ټولو کتابونو نـه د بې وفايي لفظ لرې کړي

وو...□

(c) ketabton.com: The Digital Library



❀↶

ستا په اړه هیڅ جمله نشم لیکلی حافظه می کمزوری شوی شاید خان می هم هیر شی چی زه څوک یم

↶❀

ممکن داسې هم سم وي:

"د ځینو خلکو په تګ ممکن نه مړه شو، نه لېونیان خو بیا به هېڅکله هاغسې نهٔشو کوم چې د دوی په شتون کې وو

↶❀

کله چې ته ناڅاپه په داسې یو شخص بدل شې، چې پر نورو بېځایه تورونه نه پورې کوې، له بېځایه او بې مانا بحثونو څخه تښتې، هغه خلک چې دې پرېښي دي له هغو پرته خپل مزل ته ادامه ورکولې شې او له یوې مشکوکې چوپتیا سره خپل ټول دردونه زغمې؛ نو پوه شه، چې ته د پوخوالي ډېرې لوړې درجې ته رسیدلی یې.

❀↶

ژوند هغوی وکړ، چا چې شته د خوښۍ لحظې درک کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❀↶

**ډېره سخته ده..**

**چې په زړه کې دې وي**

**خو په ژوند کې دې نه..**

❀↶

**غلا تل پیسې نه وي**

**ځینې وختونه ستاسو زړه غلا کوي**

**ځینې وختونه ستاسو خندا**

**او زیاتره ستاسو ژوند غلا کوي!**

**ژباړه**

❀↶

**یادیږې مې او احساس کوم**

**چې یوازې همدا کمله ده**

**چې د پای ټکي ورپسې ږدم..!**

❀↶

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په ژوند کې هیڅ کله هم تسلیم نشی**

**ځکه چې د هرې ثانیه په تیریدو سره**

**تاسو خپل هدف ته نیږدې کیږي**

❀↶

**هغه خلک چې فکر کوي د نورو ژوند پرته لۀ دوی نۀ کیږي،خپل فکر دې بدل کړي،دا ډېر وروسته پاتې ذهنونه دي..!** ↶

↶❀

**دا چې یو وخت مهم وې،دلیل نۀ جوړېږي چې تل دې مهم واوسې؛ یو وخت څوک د چا یو ځل لیدلو تۀ د لېوالتیا پۀ وروستي حد کې وي،مګر وروسته لاره ترې بدلوي!**

❀↶

## کله چې څوک خفه وي

**ورته مه وایه چې: ”وزغمه! دا هم تېرېږي.“**

**ورته مه وایه چې: ”هر څه به ښه شي!“**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغه خاطرې او سختۍ ورته مه يادوه چې پر تا او شاوخوا خلکو باندې دې راغلي او ورته مه وايه چې "له تا هم بدبخته انسانان شته."**

**ټوکې ورته مه کوه چې وخاندي، ځوک چې خفه وي، نه غواړي وخاندي، غوسه وي، پوهېږې!؟ غوسه!!!**

**د ژوند فلسفې ورته مه غږوه، د مثبتې انرژۍ او "مثبت و اوسه!" کيسې ورته مه کوه.**

**ځوک چې خفه وي، اصلا ته نه يې چې ورته وغږېږې. ته بايد بيخي خبرې ونه کړې.**

**غېږ کې يې ونيسه...؛**

**سترګو ته يې وګوره...؛**

**چای ورته واچوه...؛**

**څنګ ته يې کېنوه...؛**

**بيا مه غږېږه!...**

**پرېږده چې هغه وغږېږي، ته ورته غوږ شه...!**

**د نظر ورکولو او نصيحت کولو فکر مه کوه...!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا فکر مه کوه چې که ورته ونه غږیږې، ناوړه پېښه به وشي؛ ته د هغه پر ځای نه يې.

تا د هغه له پیدایښته، د هغه ژوند نه دی کړی.

لاس يې ونيسه...!

غېږ کې يې ونيسه...!

چوپ شه...!

تل ټينګار مه کوه چې "له ما سره وغږيږه!"

راته ووايه!

غېږ کې يې ونيسه...

که زړه يې و، خپله درته غږيږي...

ژباړه:

"یوازې کېدل او یوازې شوی" ددې دواړو ترمنځ زيات توپير دی، اول ته انتخابوې دويم تا انتخابوي.

❀ن

،هغوئ چې په بار بار واي هيڅ کيسه کې دې نه يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دا ومنه هغوئ مو تر نورو ډېر ښاري.**

❀↶

**د اسرار په زړه کې راشي جوړ ته راغلې**

**چې هـوا چرته را لـرې کړي د شپې ور**

❀↶

**کله مو چې څوک مخلص وموند خيال يې وساتئ تجربې پرې مه کوئ!!!**

❀↶

**هر انسان؛**

**د خپل وجود په عمق کې يوه هديره لري، چې يوازې هغه خلک پکې خښ دي، چې يو وخت يې مينه ورسره لرله!**

❀↶

**کله چې تاسو بې له شکه په يو چا باندې بشپړ باور وکړئ ، نو تاسو په پای کې له دوه پايلو څخه يوه ترلاسه کوئ: د ژوند لپاره شخص يا د ژوند لپاره درس..**

(c) ketabton.com: The Digital Library



❀↶

.له وخت سره دومره وخت نشته چې دوهم ځل وخت درکړي

❀↶

د ژوند په کتاب کې  د ځينو خلکو انځورونه پيکه رسم کړئ؛ تر څو يې عيبونه(غلطۍ) پټې شي او ستاسې د زورېدو سبب نه شي.

بله خوا د ځينو خلکو انځورونه په هر باب او هره پاڼه رسم کړئ؛ تر څو مو هره صحنه له خوښيو او شور نه ډکه شي.

دا د ښه ژوند اصول دي، زده يې کړهٔ!

↶❀

اړيکې يواځې په واټن کې ازمايل کېږي نور نو هرڅوک د سترګو په وړاندې وفادار دی.!

❀↶

...چې ځواني وي ، ارمآنوونه خو به وي

❀↶

(c) ketabton.com: The Digital Library



په  مینه کې هیڅکله سوال مه کوئ،ځکه سوالګرو ته .هیڅوک ارزښتناک څیزونه نه ورکوي

د مینې په بدل کې مینه او بس....

❀ↄ

: که چیري هغه مي په

نصیب شوي وه ...!

نو مابه د دنیا د ټولو کتابونو نه د بی وفایی لفظ لرې کړي وو...

❀ↄ

کله چې

یو څوک درته وايي:

له خلکو ډېر ناهیلې یم..

اصلاً دا پیغام درکوي چې،

خیر دی ته د هغوی له ډلې مه اوسه

❀ↄ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بی غږه خبرې

**کاش هر څه مې په زړه کې ساتلي وای!**

**درته مې نه وی ویلي چې!**

**مینه درسره لرم!**

**ګران یې راته!**

**خفه یم درپسې!**

**راسره وګوره!**

**ژوند مې یې!**

**نفس مې یې!**

**ځکه د دې الفاظو او اظهار ځواب دا و چې هسې مې ځان درته بې ارزښته کړ!**

**ځکه دلته د مینې ځای نفرت نیولی!**

**ڡ❀**

**هغه خلک چې فکر کوي د نورو ژوند پرته لۀ دوی نۀ کیږي،خپل فکر دې بدل کړي،دا ډېر وروسته پاتې ذهنونه دي!**

**ڡ❀**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځومره به دغه کس مات او دردیدلی وي،چې دا الفاظ یې ویلې:**

**ما ته او ستا راکړل شوي ټول اذیتونه وبخښل،**

**تر څو د خدای په وړاندې (محشر)هم د یو بل سره مخ نشو**

**↶❀**

**د ژوند تر ټولو سخته اړیکه هغه ده ،کله چې دوه مغروره انسانان په یو بل مئین شي؛ ...**

**↶❀**

**د ډیر وخت لپاره له چا کرکه مه کوئ، ځکه دا کرکه ستاسې په یوې کمزورۍ بدلیږي،**

**کافي ده، چې د ارزښت او توجه له دایرې یې وباسئ**

**↶❀**

**یو طرفه مینه لکه له بې اندازې کوچنی بوټ، که یې په پښو کړې، هر وخت دې پښه پرې کوي او له درده پرته بل څه نه درکوي....**

**↶❀**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زندګي لکه د ډېر عمر مېرمنه**

**ساه يې لنډه شي چې دوه قدمه واخلې!**

❀↶

**هر څوک ده ژونده ستړي ـــــ**

**هر څوک په ژوند کې ستړي،**

**نه زندګي پيژني...**

**نه رنګيني پيژني...**

**نه پسرلي پيژنی...**

**نه ليوني پيژني...**

**نه...**

❀↶

**هغه چاته د رسيدو هڅه مه کوه څوک چې تا نه غواړي...!**

**نقل**

❀↶

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ”مینه در سره لرم

**د دغې جملې د ویونکي کړنه که له معنی سره سمون ونه خوري؛ نو مینه نه ده.**

**خو ځینې خلک :**

**د دې پرځای چې ووايي "مینه درسره لرم" هغوی وايي:.ﷺ**

**آیا ته رښتیا ښه یې؟**

**تاسو یې کولای شئ !**

**آرمه اوسئ، تا تر اوسه ډوډۍ نده خوړلې؟**

**زه په تاسو پوره باور لرم  او داسې نور ..**

**فکر مو وي ځینې خلک تاسو سره ریښتینې مینه لري او تل ستاسو پاملرنه کوي، مګر دوی نه پوهیږي چې څنګه اظهار وکړي.**

**خو له هغو خلکو غوره دي چې وايي " مینه درسره لرم"**

**مګر پاملرنه نه درته کوي؛**

**نو هغې ته مینه نشو ویلای.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



❀↶

**اوښکې..!!**

**اوښکې صرف څاڅکې نه بلکې کلمې او جملې دي،**

**خو خبره داده چې هر څوک يې نشي لوستلای،**

❀↶

**ستا هره خبره لکه**

**په سړا هوا کې ګرم چاې**

**دی وجود يخنې مې له مينځه وړې..!**

❀↶

**ايا تاسو پوهيږئ**

**چې پلورونکې ولې ناوخته څواب ورکوي؟**

**څکه چې تاسو ې يوازينی پيرودونکې نه يی!**

**څو څله ې ولولئ.**

❀↶

**هېڅوک د هغه چا په څبر**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بی غږه خبرې

**تاسې نه تعقیبوي**

**چا چې تاسې پرېښئ یی**

**هغه غواړي ډاډ ترلاسه کړي چې هغه/ې**

**تېروتنه نه ده کړې**

**هغه/ې ته وښیه چې هغه/ې غټه تېروتنه کړې**

❀↶

**یوه خبره ښه خبره**

**هیڅکله**

**محتاج مه نا امیده کوه**

❀↶

**وخت او ځینې پیښې انسان دومره خاموشه کوي**

**چې اړینې خبرې یې هم زړه نه غواړي**

❀↶

**هغه خلک چې تل انلاین وي،تر ټولو یوازې خلک دي**

❀↶

(c) ketabton.com: The Digital Library



له هغه چا سره مينه وکړه چې تا غواړې،څوک چې ستا انتظار کوي،چې په لېونتوب کې دې هم درک کوي؛څوک چې مرسته درسره کوي،او لارښوونه درته کوي،څوک چې ستا ملاتړ دی،ستا اميد دی. پر هغه چا مئين شه چې له جنګ وروسته درسره خبرې کوي.

↶❀

لويه خدايه ،ځينې وختونه ماته سخته وي چې پوه شم چې ته واقعيا څه غواړې پيښ شي.

❀↷

خو په تا بارو لرم.

زه پوهيږم چې تاسو به ماته هغه څه راکړي چې غوره دي.

↶❀

"زه هيله لرم چې داسې څوک ومومئ چې تاسو په ژبه خبرې کوي، نو تاسو اړ نه شئ چې ټول عمر د خپل روح په ترجمانۍ کې تېر کړئ".

❀↷

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ژوند کې یو ځل له داسې چا سره مخ کیږئ چې هر څه بدلوي.

❀↶

دا ډیر زړه راښکونکی دی کله چی یو څوک واقعیا ستاسو د ساتلو هڅه کوي.

❀↶

یو څوک در سره خبري نه کوي خو ستا په اړه تر هغه زیات فکر کوی چی ته یی نشي کولی .....

❀↶

باور وکړه چي په کومه شپه د خوب کي هم وګورم تړوله ورځ او شپه مي په سکون وي .

❀↶

له چا سره چی مینه لري د سترګو پریولل، دوه دقیقی د پردی تر شا د پوره کال خبرو کولو څخه غوره دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



❀↶

**که څوک تاسو خوشحاله کوی نو هغوی خوشحاله کړئ**

❀↶

**شاید دا زموږ برخلیک وي چې داسی وي، په بل ډول د خوښۍ می احساس کول خو ته نه ویی**

❀↶

**هیڅکله مه هیروئ چی څنګه یی فاصله درکړه کله چی تاسو مینی ته اړتیا درلوده.**

↶❀

**دا ډیره بده ده چې د خوښې رول ولوبوي،پداسې حال کې چې دننه له هرڅه ستړی یی**

❀↶

**که هر څومره ښه واوسي ستا ځای به درکول کیږي.**

↶❀

**خوب هم د مشکلاتو نه د پټ کیدو یوه لار ده..!!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



❀↶

زړه مات،ذهن ستړی،او روح ستړی،نور پروا نه کوي.!!

❀↶

او شاید دا درته مهم څه نه وو.خو دا زما زړه وو چې له تا سره يې رښتيني مينه درلوده.!

❀↶❀

کله چی تاسو د خپل او د يو چا تر منځ پخوانۍ خبرې ولولئ ...بيا به درته معلومه شي چی ځینی خلک څومره . بدلون کوي زړونه بدليږی مینه بدليږی ...لفظونه بدليږي او وعدي تږلي وعدي باد ته ځي

☟

که په دې نړۍ کې هيڅ شی نه وي زه به تسليم نه شم ستا په اړه

☟

که تاسو دې خبرو ته ځواب ورکړئ، تاسو به پوه شئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوازیتوب دا نه دی چې د خبرو کولو څوک نه وي.

یوازیتوب ددی چې د خبرو کولو لپاره څوک وي خو د خبرو کولو لپاره څه نه وي.

ژباړه

جبران خلیل وایي:

د یو ځوان پر قبر دا لیکلي وو:

یو بل مه خپه کوئ! پر خدای قسم چې پښیمانه کیږئ به!

ژباړه:

هېڅوک نه پوهیږي چې وروستې دیدن کوم یو دې...!

ژباړه

(C) Ketabton.com: the Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځان دومره قوي کړه، چې بدلېدونکي موسمونه او بدلېدونکي خلک دې د خفګان دليل نشي..!**

**ژباړه:**

**✪↶❀**

**وخانده ښه ډېر همدا دي ...!**

**ورځ ده ... □**

**خو يوه ورځ به دي حساب:**

**ته کينوم ...!**

**≛↶❀**

**!د زړه خبرې مو مه پټوئ**

**ځکه چې په ويلو يې فيصلې،او په نه ويلو يې فاصلې رامنځته کيږي.**

**❀↶≛**

**زما هغه خلک ډېر خوښيږي چې ځان ته احترام لري، د نورو احترام کوي، ژورې خبرې کوي، په ادب پوښتنه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کوي، په شوق ټوکه کوي، په اخلاص بخښنه غواړي، او په خاموشۍ کې لرې ګرځي!**

**ژباړه:**

✪↶❀

**..،زموږ ټولو قربانۍ،بې خوبي**

**او زحمتونه دې یوه ورځ رنګ راوړي..**

⩮⩮⩮

**ځیني زخمونه مې په دې خاطر پټ کړل, چې چاقو د هغه چا په لاس کې وو چې ګران و راته..!**

↶❀

**ایا تاسو داسې یو څوک لرئ چې لاندې جملې درته کاروي؟**

**په سکون شي.**

**ډوډۍ دې خوړلې ده؟**

**کله چې کور ته ورسېدې یو میسج وکړه.**

**په ځان دې پام کوه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ایا کافي پیسې لرې؟**

**ایا غواړې چې مرسته درسره وکړم؟**

**ایا ته مطمئن یې چې ښه او جوړ یې؟**

**که ماته دې ضرورت وه؛ نو همېش دې په خدمت کې یمه.**

**ډېره لږه هڅه هم د زیات ارزښت وړ ده.**

**دا د دې ښودنه کوي چې یو څوک څومره تاسو باندې پام کوي.**

❀↶≛

**څه د سترې ژوند کېسه رایادوې؟**

**د میسج کړنګ شو، الفاظ یې څه داسې لیکلې وؤ!**

**د مجنون بچیه!**

**ستاسو لیکنې له درده ډکې دي، له ورایه پکې یوه ستره ناهیلي ښکاري، داسې انګېرم چې تړوک، تړوک شوی یې!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه دې له څو کالو راهیسې تعقیبوم، څو ځلې مې هڅه وکړه چې ستا له کیسې او داستان خبره شم، خو نن مې زړه غټ کړ!

کولی شې درد مو راته بیان کړئ؟

ځواب مې څه په دې الفاظو ورکړ! ما ورته د بل چا شعر یو ټوټه بیتونه رابېل کړل:

غم به وژلي وې نازکې جنۍ

شکر وباسه چې مینه نه یې!

بیا مې تېنګار وکړ چې زما خلص ځواب له دې بیت څخه اخیستلی شې خو هغی تینګار وکړ.

نو په داستان ویلو مې ورته پیل وکړ.

په وروستیو کې یې دا کربنې راغلې چې ۀ دې ژړولم.

نور مې داستان په نیمایي کې بس کړه

❀ര❀

کله یې چې له هغه پوښتنه وکړه :

څرنګه دې په دومره ګڼه ګوڼه کې هغه پیدا کړه !؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ويې ويل کومه ګنه ګونه؟!**

**ما له هغې پرته هيڅوک نه دي ليدلي.**

❀ه❀

**ماشومتوب مې ياديږي, هغه ورځې يې چې د زړه په ځای به مې ګونډې زخم کېدې..!**

**ژباړه:**

❀ه

**.چـا راته وويـل**

**تـه ډير ښـه يـی**

**مسکي شوم**

**ورتــه ومې ويل**

**مشکل همدا ده**

**هغه لاړه،**

❀ه

**خو زه تر اوسه په دې فکرونو کې يم :**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**انسان ولې په چا زړه وبايلي؟**

**ښنه چې زړه وبايلي ، ولې يې بل انسان خندښ شي ؟**

**ولې بيا خدای ج سکوت غوره کړي؟**

**انصاف له پاره بيا سړی چېرته لاړشي؟**

**🕮 چتېل نويس ليکونه**

**❀↶**

**له يوازيتوب څخه د خلاصون د پاره ځان ارزانه مه پلورئ..!**

**ژباړه:**

**↶❀**

**ستونزه له هغه ځايه پيل شوه**

**چې هر انسان هر انسان ته ورسيد او وويل "مينه درسره لرم" او ددې جملې اعتبار له منځه لاړو...!**

**ژباړه:**

**❀↶**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سخته ضربه مې ولیده, تر څو پوه شم, هغه چې د پاتې کېدو نیت نه لري باید مخه یې ونه نیول شي..!**

**ژباړه:**

**❀↶**

**دومره انتظار مې وکړ, چې له یاده مې ووتل څه مې کول!؟**

**❀↶**

**غوښتل مې ووایم چې....**

**انسان کیداشي ځیني وخت یې حالت ښه نه وي،**

**خو منظم او ښکلې ووسي،**

**ځان سینګار کړې وي.**

**انسان کیداشي حالت یې ښه نه وي!**

**خو مهمانۍ ته لاړ شي.**

**انسان کیداشي حالت یې ښه نه وي!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو بيا هم سفر وکي، کافه خونې ته يا رستورانټ ته لاړ شي.

څوک د چا له زړه نه څه خبر دي ❤

ژباړه:

↶❀

يو ډاکټر وايي چې: ترټولو ښه درملنه مينه ده.

چا ترې وپوښتل: چې که دا کار تاثير ونه کړي؟ ډاکټر په خندا سره ځواب ورکړ, بيا يې اندازه ډېره کړه.."

❀↶

که تاسو د مينې په سفر ياست, هېر کړئ چې د لارې پای چيرته رسيږي..!

❀↶

نن د څو شپبو د پاره مړ وم!

په کوڅه کې مې ستا د خندا غږ تر غوږه شو....

❀↶

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ باید هېڅ څه له پاره تېنګار ونه کړو!

څه چې باید وشي, هغه کېدونکې دي,

راتلونکې, بېرته راځي,

پاتې کېدونکې, پاتې کېږي,

او

تلونکې, ځي.....!

ژباړه:

❀ﮦ

ته زما د پاره ماته شوې شیشه وې, خو ما بیا هم لاس درکړو او راپورته مې کړې باوجود ددې چې پوهیدم لاس مې ژوبله وې...!

❀ﮦ

که غوښتل دې زما او د یو بل ترمنځ یو انتخاب کړې, ما مه انتخابه وه...!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:**

**❀↶**

**کال لاړ او دا دی تماميږي.**

**مهمه دا ده چې څوک درته پاتې شول،**

**څوک تر دې دمه درسره راغلل،**

**چا هڅه وکړه چې تر ټولو بدو ورځو کې دې یو ځل په شونډو مسکا راولي،**

**چا دې د شتون قدر وکړ، تل یې وبخښلې**

**او چا درسره مینه وکړه په داسې حال کې چې فکر دې کاوه اصلاً یې وړ نه یې!!!**

**نقل**

**↶❀**

**په دې موده کې تر ټولو ریښتیني شی چی ما لوستلی دی د انسان په روح کی بد شی دا دی چی له کریډیټر سره عادت کیږي نو هیڅکله ورته د احسان په سترګه نه ګوريځ**

**❀↶**

(C) Ketabton.com: the Digital Library 

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ژباړه

**ژوند د هر چا لپاره یو شان نه دی یوازی ما ته وګوره زه په هر څه کی بدبخته یم**

❀ۍ

**زه نور د هیڅ شي په کیسه کې نه یم ما هرڅه له لاسه ورکړی چی ما غوښتل !!!**

❀ۍ

**زه له تاسو سره مینه لرم مهمه نه ده چې موږ په هر ځای کې یو**

❀ۍ

**زه غواړم ځیني وختونه د خپل درونډ فشار او بی هوا څخه د خلاصون لپاره و تښتم.**

❀ۍ

**هغه څوک و مومئ چی ستاسو په شتون ویاړي، ستاسو له لاسه ورکولو څخه ویره لري ستاسو لپاره مبارزه کوي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بی غږه خبرې

ستاسو ستاینه کوي ستاسو درناوی کوي، ستاسو پاملرنه کوي او تاسو سره بی کچی مینه لري.

❀↶

او شاید دا درته مهم څه نه وو خو دا زما زړه وو چې له تا سره یې رښتینی مینه درلوده.

↷❀

که ما درته وویل چی ستا سره خبری کول مي په زړه کې هر څه رغوی

❀↶

ته می هېر کړی زه دې نه هېروم ته را نه کرکه کوی، زه دي ښه او بد وخت ته ګران یم زه دی خدای ته ملامت یم

↷❀

ستا تک به زما په ژوند کی تر ټولو قوی کمزوری وی چی تر ـــ ـــ اوسه می د رغیدو نه وي.

❀↶

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره شپه ستا د خبرو په انتظار کې يم ته مې يادېږې او بيا په همدی هيله ويده کيږم

❀↶

تر څو مو چی څوک نه وي ازار کړی پرېږده چی خلک مو په زړه وګوري او پروا يی مه کوئ.

↶❀

زه په دی نه شرميږم چی ووايم کاش زه هم د دوی په خير وای

↶❀

خوب ځای داسی ځای دی چی د هر زړه مات انسان ته د ژړا بوی ورکوي څوک چی ارام ويده شي

❀↶

زما په زړه کې اوس هم داسی څه شته چی هيڅکله نه مری که څه هم ته تللی يی.

❀↶

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زړه مات، ذهن ستړی او روح ستړی، نور پروا نه کوي.!!**

**❀↶**

**دا ډیره بده ده چې د خوښۍ رول لوبوي ، پداسی حال کی چې تاسو دننه ستړی ویی**

**❀↶**

**له زړګونو میله بی وزلۍ وروسته یوه سندره، یو نظر یا یو ارمان انسان بیرته راولي.**

**❀↶**

**خاموشه، ستړي خوبولي ،سترګي په داسي موډ کې چې نه پوهیږم څه غواړي لر سر درد او ډېر سوچونه**

**❀↶**

**او که څوک درته وایی ولی دی پوښتنه کولو ته وخت پیدا کوم دروغجن دی باور وکړه حتی تشناب ته هم له مبایل سره ځي**

**❀↶**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر مې د فکر له شدت درد کوي وجود مې له خوبه ستړی دی نه پوهېږم چېرته لاړ شم او چاته شکايت وکړم

❀↶

ای خوبه څه په مات زړه درته راغلم په زور مې درته وويل د خوب ارمان مې وکړو

❀↶

د فجر لمونځ. جزاك الله خيرا. يوازي زړه پری پوهيږي خدای له هغه سره مينه وکړه او د هغه سره يې ملاقات خوښ شو يا الله موږ او تاسو د فاجرانو له جملې څخه وګرځوی، فجر لمونځ يوه داسی خزانه ده چی د دنيا او د هغی د خزانو سره نه پرتله کيږی څوک چی د الله تعالی په ملګرتيا کی فجر او روژه نيسي نو د الله تعالی د دی نعمت شکر دی ادا کړی". "الصلاة الصلاة الصلاة الصلاة الصلاة الصلاة الصلاة

❀↶

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يا الله د دې ورځې په سهار کې يوه معجزه له چې تقديرونه بدل شي او ارمانونه پوره شي. د فجر لمونځ ، اې د جنت غوښتونکو**

**❀ ﮶**

**د هسپانوی اداکاری «انا دي ارماس »ښکلا عادي خبره نه ده**

**❀ ﮶**

**ژوند وکړئ او په مسکا يې**

**تير کړئ**

**چې څوک مو نه خپليږي**

**رخصت يې کړئ...!**

**.**

**قهوه وڅښئ او ښايسته موسيقي واورئ څو شيبې هيڅ فکر مکوئ ، ښايي ژوند همدا وي!**

**کرښنه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شعرونه ټولګه

ځنګ به احساس د چا د اوښکو وکړي

چا چې په ژوند چرته ژړلی نه وي

***

اول مې فکر درته نه وو

اوس مې د زړه ستنې کاږې در پسې دينه

***

زۀ خو دې د سترګو په ليدو پسې روان ومه

ورکه دې دُنيا شي زۀ دې څۀ کوم دُنيا سره!

***

چې مې دسختې يار خبرېږي

په مابه درد دزړګي څه څه کړې وينه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



هيلي مـی يوه يوه له مـنځه ځـي

پاڼې د خزان تري جوړي شوي دی

***

د بېلتانهٔ ماښام مې وژني

لهٔ کوره تللي خلک ولې نهٔ راځينه..

***

ځکه مې ځان درنه راټول کـــړو

درته بې قدره شوم په ځان وشرميدمه

***

ده بيلتانه له غـرونو تيره

زړه ته راتيره ياره نه راځی خوبونه

***

هغه اوس چرته زه اوس چرته

نه ترې خبرېږم نه زما خبر ورځينه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشه لږ په رابطو هم فکر وکړه

چې زه څه وم اوتا څه راڅخه جوړ کړ

اوس به خود په نه خبره هم دردېږم

سپېره کاڼی وم تازړه راڅخه جوړ کړ

حفيظ هميم

***

غم مې د خپلې بې کسي دی

کني ګټلي برخې چا پريښي دينه

***

زما دې لارو ته سلګۍ دي

ستا له ويجاړه ملکه هېڅوک نه راځينه

***

راځه راځه چې حساب وکړو

تا ډېر خندلي که ما ډېر ژړلي دينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

د کړېدو به مې نصيب و

ګنې په کور کې نازولی هلک ومه.

***

که چيرې ورځ ده خساب راشی

ده خپلو اوښکو به پوښتنه درنه کړمه

***

تل وي په مړو سترګو، شرمنده راته ولاړ

چا ته چې کيسه د عشق، هنداره کې کووم

***

بس يو څوک راته په هر وخت کی ياديژی ،،،،.؟

بس يو چا پسی بيخی لهحده زړه خورم ....!

***

تا وی زړه کې مې خبرې

ما وی څه دي راته وايه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په مسکا دې وېل چې هسې**

**ما وېل هسې دې قربان شم!**

**☆☆☆**

**به دې تللي لارې ګورم**

***ته به ښکار شوی د لیوانو وې مئینه***

**☆☆☆**

**زما دې لارې ته سلګی دي**

**ستا له میراته ملکه هیڅوک نه راځینه**

**☆☆☆**

**زما د خپلې خوښې یاره**

**زه به له تانه زړګی ځنګه صبرومه**

**☆☆☆**

**هیڅ مې له وسه پوره نه دي**

**له ډکو سترګو به دې سترګې واړومه**

(C) Ketabton.com: the Digital Library 

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

لالی دې خپله رضا وکړي

په تلو يې نه يم د بې ننګو کار کوينه

***

کـــــتابونو راته څه زده کړل صميمه

هوښياران يې کړو  په غم يې اموخته کړو

***

ستا  بندګانو  ته د سوال نه  مخکې

زهر ډير ښه وو چې خوړلي مې وای

***

په زړه کې مې د مينـې انتهـا راټولوله

په چاودو چاودو شونډو مې خندا راټولوله

***

رنګ مې د تورو سترګو تور شو

ځکه په توره شپه کښې نکوم خوبونه

(C) Ketabton.com: the Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

تا چ وینم، قدمونه پهٔ ارام ږدم

ګوندې غږ را باندې و کړې چ همیمه!

***

د هېر شوي یار د کور په لور مې بیایې

پـه بـدیَ کې څــــــه نیکي کوې عـادته

***

په مطلب دې دَ خندا زه پوهه نـهٔ شوم

چې دې ماته او که ما پورې خندا که

***

زه ریښتیا بې قرار زړه ته ملامت یم

ما ورکړې د دروغو تســـلّي ده.. ه

***

د زړه تنګون علاج می څنګه او په څه وکړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسيقی واورم تاته زنګ وکړم که څه وکړمه

≛≛≛

يو سوک چې ډير ليرې اوسيږي شپې

نو هغه دومره نه پوهيږي شپې

≛≛≛ .

ما خوشالي وه نه ليدله

ده غمو پنډه هميشه په اوږو واړمه

≛≛≛

سخت مريض په بېلتانه شمه لاليه

نوم دې واخلم بېرته ښه شمه لاليه

≛≛≛

دا دی بل اختر هم راغی او تيريږي

دا دی ناڅم ستا د ډمو غمو ورا ته

دا دی کومه ده چې غږ مې در رسيږي؟

(C) Ketabton.com: the Digital Library 

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دی بل نظم مې هم لیکم هوا ته

٭٭٭

زه ترېنه تېر شم مګر سترګې رانه پاته وي
ښار دی یو څوک نه یو څوک ورته پکې تاته وي

٭٭٭

یاره ستا د هېرولو کیسې داسې
لکه سپین ویښته چې وکاږې او ډېر شي

وخت چې څوک وژني نو يې داسې وژني
بس له جانانه سړی لېرې بوځي

٭٭٭

د اسرار په زړه کې راشي جوړ ته راغلې
چې هوا چرته را لرې کړي د شپې ور

٭٭٭

کاش چې داسې آئنې شي چیرته جوړې

(C) Ketabton.com: the Digital Library 

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د مخ پر ځای ضمیر  پکې کتی شو

***

مقرر چې څه د خدائ وي هغه رسي

ګنې بده ورځ ده چا په ځان پېرزو شي.

***

زه د اهونو اسوېلیو په تم ځای کې ولاړ

ستا د غرور تکسي ته لاس ونیسم نه ودرېږي

***

د باران دې کمال ته ګوره

له یاده وتي خلک بیا دریادوینه

***

په بې قدرۍ مې ګرمه نه یئ

په اسانۍ موندلي تل بې قدره وینه

***

څنګه مې خپله کړلي ډېرو دعاګانو باندې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څنګه يې راکړلي د خدای رضاء دي وليدله!**

**≛≛≛**

**ما د نصيب نه تېښته وکړه**

**نصيب زما د لارې مل راسره ځينه**

**≛≛≛**

**د بېوسۍ کيسې به نکړې**

**په خپل وطن کې سترګې ټيټې ګرځومه**

**≛≛≛**

**د مازديګر زيړيه لمره**

**په ناخبره يارمی وايه سلامونه**

**≛≛≛**

**!چې هلې، ځلې مې کولې**

**ما وېل فاني دُنيا به تل ولاړه وينه!**

**≛≛≛**

**ستا د انتظار له خوږو خوند اخلم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا دیدن که نن نهٔ وي سبا به شي

★★★

چې چرته یې احوال دې راوړه

بــې غَوره یاره اندېښنو لېونی کړمه

★★★

د غـم می زور په زړګی نه رسیـدی.؛

مــخ ته می راغلــی نو بدرنګ یی کړمه..!

★★★

د زړګي ټول زور به راټول کړم

یوه ګیله به خدای ته وکړم بیا به ځمه

★★★

ناڅاپه غږ را باندې مکړه

ته به مستي کړې ما به زړهٔ چاودلی وینه

★★★

ماته مې خپل زړګی معلوم دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



که نن يې صبر کړم سبا دې يادوينه

≛≛≛

ازار وه مـی مـه جانانه

بل به دې خوښ شی بيابه تا ازار وينه

≛≛≛

مخامخ کېنه چې دې ګورم

زه د دنيا د کاره تا وپستلې بمه

≛≛≛

لکه د ساه، ويښ ويـده، نـــه پېژني

ياد دې که ورځ وي او که شپه، ځي راځي

≛≛≛

لکه ډار کاندي ورغومی له ګُرګانو

هسې رنګ له جدايئ نه زما ډار شي

≛≛≛

تا يادوي چې يار دې نه دی ښکلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



تولې دنیا لکه چې بنګ وهلې

***

تا ته زیر زیر کتل پهٔ زړونو عذاب

لــه تا نه مــخ اړول بله ګـــناه

***

نن هغې زړې ډاکترې ولیدم

راغله په موسکا یې راته وویل

مخ باندې دې ګونځې ډیرې شوې دي

سر نه دې ویښته هم دوړیدلي دي

ته جوړ لا هم هغسې په غم کې یې

زه ورته په سترګو کې موسکی شومه

ورو غوندې مې وویل چې ښه یمه

هغسې دورې راباندې نه راځي

اوس بی له دوا هم ویده کیږمه

بیا هم کله کله ځوک رایاده شي

(C) Ketabton.com: the Digital Library 

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا مې په خبرو کې ساه لنډه شوه

څنګه چې ډاکټرې راته وکتل

سترګې مې له اوښکو ډکې شوې وې....

سعود

***

فکر مې بل چېرته وو؛

وبښه څـــــه دې ویل؟

ښنا نور دې نه یم په کار،

ریښتیا له زړه دې ویل؟

ورځه په مخه دې ښه،

څومره خواږه دې ویل

***

زموږ زړونه چې د بل رضا ته ګوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بې غږه خبرې

په سينو کښې که زموږ دي،زموږ نه دي

***

څـهٔ به تشريح کوٶمه زهٔ د شرح شـوي فکر

څـهٔ به جواب کــومـــه زهٔ د لاجوابو ياره

***

د بدنامۍ او رسوايۍ څه مطلب

جذبه د مينې وه څه غلا خو نه وه..!

***

زړه مې په توپونو نه نړيږي

ستا په وړه خبره ړدې ورې شينه

***

چې چيرته يې احوال دې راوړه

بـې غَوره ياره انديښنو لېونۍ کړمه

***

هلته مې بل په ژوند را ګډ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته مې نوک له غوږنې څنګه واړومه

***

څنګه يې؟ چرته يې؟ لاليه زندګي څنګه ده؟

پوښتنې مه کوه چې وران به درته وغږېږم

***

کومه جنتي څهره به ستا زړه کې راګرځي؟

هی د ګلو ونې! ته به څوک له خدايه غواړې؟

***

دا چا اوويل چی د زهرو ګولی خورمه ورپسی؟

زه داسی مئين نه يمه چی مرمه ورپسی!

جانان دی ښه په خپله پښتو...ودريږي ريباره!

زه دومره ليونی نه يم...چی ځمه ورپسی

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځه چې وېش د دنيا وکړو

يو ته زما شه، دنيا ټوله دې ستا شينه

***

بارانورېږي، ته د تګ خبرې ولې کوې؟

خدای خو دې ودروه ټولې سيپارې مخ ته

***

کوي مې غوږ کې ازانګۀ ستا دا خبره اوس هم

چې خلک څۀ لري ؟ هميمه تا خو ما لرې

***

په ليوني زړه به مې څه کړل

که را نازل نــه وای د صبر آياتـونه

***

څوک تر تا دي رسېدلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند په لاره لاره تله دي

تصويرونه لکه فرېم کې
خلک ټول دننه مړه دي

خدايګو ښه رښتيا دي ووې
څوک دچا له غمه مړه دي
#تسنيم
***
ستا د تلو نه پس يواځې پاتې نۀ شوم
تانه خکلې يو پۀ سله مې پيدا کړه

لکه ما غوندې پۀ مينه پاکه مړه دا
لکه ځان غوندې پاګله مې پيدا کړه
***

(C) Ketabton.com: the Digital Library 

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک یوازې په تللو نهٔ هېرېږي؛

ځینې وخت ځینې خلک وي،مګر هېر شوي وي!

***

د راتلو نیټه دې دومره لرې مه ګده

هسې نه چې د بل ښکلي هوا واخلم

***

.د اشنا غم دی،څهٔ پردی خو ندی

زما رضأ ده،پرېږده ومې دې خوري

***

په موبایل مې څه نا څه مینه ماتیږي

ستا پینځه زره عکسونه راسره دي

***

نور څه دي خو یو دانه زنځیر دی دیوالونه دي

مخامخ راځوړند دې تصویر دی دیوالونه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بی غږه خبرې

دا لکه مرغۍ چې د پنجرې تر کړکۍ ځان وهي
سوې ازانګي دي، زما وير دی ديوالونه دي

حال شوکيرزده دی هغه هم داسې چې مه پوښته
زه يم، بلاګانو ته تقرير دی ديوالونه دي

جار څه په کمال دې خپل ګرېوان ته کښنولی يم
ته به وايې پروت راباندې تير دی ديوالونه دي

چت رانه پرواز غواړي حيران مې زړه تنګون دی
نوم دې په څلور اړخه تحرير دی ديوالونه

***

زړه مې په هيڅ نه راټوليږي
ما دبايللې ژوند يادونه ژړاوينه.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند مې بايللې ده ملګرو

ځوانې به تيره وې چې بيرته يې ګټمه.

٭٭٭

ارمانه باس که نور په خوله شه

نوره ستا اوښکو په ځای وينی توايه وامه

٭٭٭

کلو کوڅو کې به نرې کړم

په تنکې عمر ده مرکې نه جدا يمه

٭٭٭

که چيرې ورځ ده خساب راشی

ده خپلو اوښکو به پوښتنه درنه کړمه

٭٭٭

زړه مې ده تورو وينو ډاګ دی

ده خولې خندا خو ده ناکامه درته کړمه

٭٭٭

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بی غږه خبرې

خلک خو وايي چې سپرلی ده

په ما خزان دی چې له تا نه جدا يمه

☆☆☆

خبری ډېری سر يې ده دی

بغير له موره تيره وای نشم واختونه......

☆☆☆

د بېلتانه راپسې مخ شو

يار يې جدا کړو اوس مې له کلي نه شړينه

☆☆☆

زړګيه !ولې نه صبرېږې

تا په بې ننګه يار کې څه ليدلې دينه

☆☆☆

چې مې ورغلے زخم بيا تازه کړی

هغه مغرورا ليـوانی چرته دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بيخي بيخوندا بے سوروړا يمه

ماښاما هغه يو سرېيے چرته دے

≛≛≛

اننګي يې په څو ډوله رنګ کې رنګ وو

د هندو د لور لړلی مخ مې خوښ شو

happyholi2024

≛≛≛

مانه د مات زړۀ تپوسونه کوي

دا خلک څومره ګران سوالونه کوي

زۀ چې اعتبار باندې خوړلی يم چا

هغه پنځه وخته مونځونه کوي

≛≛≛

غزل

. زه به ترې لاړ يم په دنيا به دې زړه نه ښه  کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه به دې تنګ وي په هيچا به دې زړه نه ښه کيږي

يوه خندا به دې د عمر تکليفونه هېر کړي
د نورو جونو په خندا به دې زړه نه ښه کيږي

ازله تېر شه ترې د مينې دې خدای بيخ وباسي
مين به شې خو ګوره بيا به دې زړه نه ښه کيږي

انتخاب

**

څه موده کيږي اندېښنې کوم وسواس کومه
لکه يو ړوند د نا ليدلي غم احساس کومه

ځه چې ځې لاړه شه زارۍ رانه ولاکه کيږي
نه مې عادت دی او نه دومره ټيټ او پاس کومه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدائے خبر ولې خو زه کله کله

يو زوړ ورغلې پرهر وګروم

يو لرې تللے ياد راوګرځوم

يو ستړي شوي غم ته غاړه وځم

يو خوبولې څړيکه وځپرمه

يو غلے شوے درد راوپاروم

د زړه دننه مقبرې ته ورشم

ستا د يادونو هديرې ته ورشم

په يو پربوتي ځلي وغوړيږم

په يو وران شوي قبر وژاړمه

ډاکټر صاحب شاه صابر

٭٭٭

ناڅاپي به لالی در ولي په مخه

کله-کله الله دومره مهربان شي!

٭٭٭

(c) ketabton.com: The Digital Library



چیرته د مستي ځوانۍ مسته خنـــــدا

چیرته د مات زړګې دا غلې مســــــــکا

*** 

چې ستا په خیال کې به زه څنګه ومه

دغه آرمان به مې په زړه پاتې شي

***

ته د اباسین په غاړه وچې شونډې ناست یې

ستا هم زندګي کېږي حیران یمه حیران.

***

زما د زړه ډاکټره راشه

په نا علاجه مرض پورت یم مړ به شمه

***

ستا یو تصویر ته مې بلا ډیرې خبرې وکړې

ستا یو تصویر ډیر کبرجن وو هغه هیڅ نۀ ویل

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بی غږه خبرې

**لالیه سخت راباندې زور دی**

**د خپلې ساه سره مې زړه خولې ته راځینه**

*******

**څه د ستړیو هیلو پنډ مې په شا کړی**

**څـه په ورکـــو ارمانونو پسې ګرځم....**

*******

**ناڅاپي به لالی در ولي پهٔ مخه**

**کله-کله الله دومره مـهربان شي!**

*******

**په زړه کی راته ولـګوي ستنې د بڼو .!**

**بیا وروسته رانه وغواړي بښنه لکه نرسه !**

**زهٔ دَ دنیا دَ ګاډي هغه سوارلی**

**چې پهٔ یو ښار باندې دَ شپې تېره شي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ ښار دَ خلقو جوندون وۀ نۀ وينې

دَ ښار دَ خلقو مخ ته وۀ نۀ ګورې

دَ ښار دَ حسن ننداره وۀ نۀ کړې

دَ ښار نه بې وصاله بېرته لاړ شې

صابر

***

غزل

چې سندرې د عشق اورې، پښېماني به دې زياتيږي

اوس به ګوندې لږه لږه، اندازه درته لګيږي

تنهايي دې په ماښام کې په زړه بوج ده او کنه ده؟

اوس پوهيږې ځينې خلک، د چا ولې نه هېريږي؟

څه لوی ظلم کوې ځينې، چې په تلو دې پرېږدي ژوند کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې تشه چې په بل چا، تر ابده نه ډکیږي

ته موسکۍ یې زه دې وینم، مګر دا ځل ماته نه یې
اوس نو وایه زما ذهن کې به، څه څه نه تېرېږي؟

یوه ورځ به مې دا زړه وي، داغ به نه وربانده ښکاري
جاذبه ستا د ښایست به، ما خو نه وې چې کمیږي

ستا موسکا یوه شېبه وه، خو زه بیا هم بختور یم
ځینو خلکو ته همدغه، پاچاهي هم نه رسیږي

ته پوهیږې مخکې نشته، له دې پرته بله لاره
زه پوهیږم چې تر تا، پورې مې چیغې نه رسیږي

وخت چې تېر شي نو همیمه څه یادونه داسې هم وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لکه څوک شپه کې روان، په هديره کې وی ډارېږي**

**انتخاب خوښی غزل**

**☆☆☆**

**ما په ډوبو ډوبو سترګو کې در واخله**

**ما په غرقو دريابونو کې لاهو کړه..!!**

**☆☆☆**

**د زړه د زخم درد په ځان پسې په خپله وړمه**

**يوازېتوب دی خوربدو ته  هېڅوک نه لرمه**

**تاسو په يو او بل راوګرځېږئ ذوق خروب کړئ**

**((زه به ويده شم تلو راتلو ته هېڅوک نه لرمه ))**

**« درمان»**

**انتخاب**

**☆☆☆**

**خاموشه خاموشې شې نابللی زړه ته راشې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې شپه شې تول ویده شې یو څوک غلی زړه ته راشې

☆☆☆

چـا تــه مخ ور واړوو چې تـه اړوې مــخ؟

*څنـګه بــې کعبې روا دی بلې خوا ته لمونځ؟

ب_باران

☆☆☆

څه دي ؟ بهسودواله تاته نه رسي

څه دي ؟ چې د خدای په کرم نه کیږي

بهسود وال

☆☆☆

په صورتونو کې مې ته یې انتخاب که منې

او سورتونو کې ښخي سورت الناس انتخاب

ممتاز

☆☆☆

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته مصروفه يې منم خو هير دې نشي

ته قِبله د يوه زړه د عبادت يې

ته د خلکو غوندې تشه د ځان نه يې

يو سړی دی اوس يې هم ته ضرورت يې

حفيظ هميم

انتخاب

***

بلا دې واخلم، په بلا باندې پوهيږې که نه؟

زه درته څه وايم، په ما باندې پوهيږې که نه؟

دا مې دُعا ده، ته دُعا غوندې په بره لاړ شې

دُعا دُعا وي، په دُعا باندې پوهيږې که نه؟

ما ته ګلاب ګلاب بللی، ته ګلاب پيژنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته د دې ټکې په مانا باندې پوهېږې که نه؟

***

ستا سزاګانې دربښمه خو يو کار به کوې
زه چې د زړه زخمونه ښځينه انکار به کوې

درسره ځمه ستا د سترګو نه مخ نه اړومه
ښه راته پته ده په لاره کښې ګزار به کوې

بلها ګلونه پکښې سر اوخوري چې سر پورته کړي
زړه ئې مني نه خو غندنه د بهار به کوې

درد نه لمبې اوباسه زخم نه ټکور اخله
هرڅه چې وي خو دا نشه نشه روزګار به کوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاړه ده سم د ماښامي نه په کښې غله راوځي
وخت مختصر دی لاره لویه ده تلوار به کوې

د خاموشۍ کنړې معنې وي شونډې زر پرانیزه
که اراده دې د الفت وي نو اظهار به کوې
انتخاب

ما به وهلې څومره فاصیلې وي شاته
تاته به راغلم کنه ډېرې میخانې وي شاته

زهٔ پهٔ هغې هغه په ما او مونږ مئین پهٔ یو بل
پهٔ یو رشته پسې بلها بلها ریشتې وي شاته

دغه یو ووم او دا نور وو ارمانونه زما
زما په کټ پسې چې کومې جنازې وي شاته
انتخاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

څه ګلونه څۀ رنګونه څۀ نغمې کړم

ستا د ښار خبرې ستا په شان خوږې کړم

زۀ د هر محفله سترې کور ته راشم

زۀ په هر اتڼ کښې ځان ذرې ذرې کړم

هغه سترګې دې يو څو ورځې زما شي

چې د مينې په خوبونو يې مړې کړم

انتخاب

***

د ماتو ماتو زړونو بد دعا شه ورپسې

جانان چې درنه تللی دې بلا شه ورپسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا هسې له شوخۍ ورته ویلی وو چې ځم

سرې لیونۍ شوې دې اوس راشه ورپسې

دردونه قرارېږي لږ د مالګې په اوبو

چې څوک درته یادېږي په ژړا شه ورپسې

انتخاب

***

تا خلق د کاذِب نصاب په شور غلطول

او زه دې غنم رنګه له زواله ویریدم !

دنیا وه خلقو وکړلې پنځه پنځه یارۍ

خو زه میرات د زړونو له وباله ویریدم

مومند صیب

***

نظم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بی غږه خبرې

له مانه تللیه مرور لالیه

د تنهایئ ازیت وخوړمه

ژوند مې تېرېږي د سکروټو په سر

د جدایئ ازیت وخوړمه

له مانه تللیه مرور لالیه

زندګي ډېره بې خوندې نیولي

د زړه په رنځ یې اموخته کړم درنه

د زړه ورغوي مې پولې نیولي

له مانه تللیه مرور لالیه

زما د زړه ورانې کوڅې ته راشه

د فراز شعر دې اوربدلی کنه

(له ما خفه یئ زمانې ته راشه )

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بی غږه خبرې

له مانه تللیه مرور لالیه

د هر احسان دې پوره وړی یمه

د ژوند په لاره مې تنها مه پرېږده

راشه تکمیل مې کړه نیمګړی یمه

له مانه تللیه مرور لالیه

هغه یوه خبره مه یادوه

په ژوند کې نوې کیسې هم ډېرې دي

هغه زاړه خبره مه یادوه

له مانه تللیه مرور لالیه

زندګي نه ارزي په غم ومنه

زه دې په ټول جهان بدیل نه وینم

که یې منې په خدای قسم ومنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بی غږه خبرې

له مانه تللیه مرور لالیه
په ننواتې کې مې ګل راوړی
غواړم نازک زړګی دې لمس کړمه پرې
ما د بخشش په نوم غزل راوړی

له مانه تللیه مرور لالیه
راشه ژړا مې په خندا واړوه
وجود مې واړه کړه ګلزار د ګلو
پاسته لاسونه دې په ما واړوه

له ما نه تللیه مرور لالیه
راځه راځه د خفګان ور وتړه
د بیلتانه له بلا لار خطا کړه
په دې وحشي مارغه نظر وتړه
له مانه تللیه مرور لالیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ژوند تمام شي زندګي ودرېږي
بيا ښښپمان يې وخت به نه راګرځي
که مې نبضونه د زړګي ودرېږي

***

ښه هندوان دي چې په يو او بل مئين دي
ورک پښتون شۀ چې يې کور په کور بدیَ دي.
د_رنګونو_ورځ

***

لکه تصوير له آيينې تللی دی
زړۀ مې خدا چېرې له سينې تللی دی

ګوندې د سولې سفير زېرې راوړي
د جنګ اتل له افسانې تللی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ماشومتوب پهٔ لټه وتی حیران

د بوډاتوب لهٔ زمانې تللی دی

***

په تا به کله کله بوج شوم پوهیدمه به ښو!

نور مې په دې نړیٔ کې څوک وو ما به چاته ژړل؟

*** .

څه بېباکه خلکو ته مو زړونه پېښو کې کېښول

لرې که اوربښته، ارزښتونه مو ارزان کړل

***

ما چېرته دسې ځای ته یوسیٔ

چې نه خبرې وي، نه خلک، نه کورونه

***

بس یو څوک راته په هر وخت کی یادیژی ،،،،.؟

بس یو چا پسی بیخی لهحده زړه خورم ....!

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه مینه رواجونه کړه ایساره

یو ګلاب د کتابونو منځ کي قات شو

≛≛≛

چي زخمونه ورته یو یو کړم په ګوته

زندګي راسره نه کیني حساب ته!

≛≛≛

مینه نه کیږي پښتو کیږي ازله

ګُلابونه کتابو نو کي زاړه شی

≛≛≛

د ځوانۍ خوندونه مفت نه وه سعیده

زمانه به یې درڅه اخلي تاوان ورو ورو

≛≛≛

پخوانی یادونه هم لکه عزاب وی

اوف له خپلی حافظی نه هم په تنګ یم

≛≛≛

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې سندرې د عشق اورې، پښېماني به دې زياتېږي

اوس به ګوندې لږه لږه، اندازه درته لګېږي

تنهايي دې په ماښام کې په زړه بوج ده او کنه ده؟

اوس پوهېږې ځيني خلک، د چا ولې نه هېرېږي؟

☆☆☆

پخواني يادونه هم يو لوی عذاب وي

اوف له خپلې حافظې نه بيخي تنګ يم

☆☆☆

دچا په سترګو پوسی شم ليونی ....؟

ده چا ليدلو پوسی می زړه خو ګيګی ...!

☆☆☆

هغه په ما پسې دوه درې قدمه نه راتلله

توبه دا زه خانه خراب پسې تر کومې لاړم

☆☆☆

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا اوازونه راځي

زما په غوږو لګي

خو لا وزګار نه یمه

لا دي پراته راته یو څو کارونه

لګیا یم یو یو رسوومه سر ته

بیا چې تمام یې کړمه

بیا که ته نه وایې هم

زهٔ به درځم پخپله.

***

بیا د کوم دېوال تر شا لهٔ ژونده پټ دی

کور کې ستوري پسې ګرځئ! بهر نشته

***

## نظم

زه اوس دومره شوم چې ته راپسې ژاړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بی غږه خبرې

ناروغي دې ورځ په ورځ پسې زياتيږي
ګرځوي دې کورنۍ په ډاکټرانو
ته په داسې يوه رنځ باندې اخته يې
چې بې ما ورباندې هيڅوک نه پوهيږي
هره ورځ درنه همدا خبره اورم
راته وايې ژوند بې تا نشم کولی
ځان به ووژنم که ته راڅخه لاړې
زه اوس دومره شوم چې ته راپسې ژاړې؟

له دفتره دې اخستې رخصتي ده
خبر شوی يمه نه ځې وظيفې ته
د همزولو محفلونو دې پرې ايښې
شپه او ورځ دې په کوټې يې ننوتې
پټه ژاړې راپسې درته يادېږم
خپل وجود دې په غاښونو باندې داړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه اوس دومره شوم چې ته راپسې ژاړې؟

د نصرت په غږ اردو موسيقي اورې
يې يوازې په تياره کوټه کې ناسته
او شکولي دې تنۍ د ګريوانه دي
د ناکامې مينې فکر درسره دی
دواړه لاسه دې له ځانه راتاو کړي
هر يو بيت يې له خپل ځان سره ژباړې
زه اوس دومره شوم چې ته راپسې ژاړې؟

هر زيارت ته د خپل ښار يې ورغلې
په کوډګرو دې هم کړي تعويزونه
نفلاتونه دې زما لپاره کړي
شکرانه دې د خپل غاړې جامې ايښي
او ورکړي دې بې حده خيراتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني دومره ضرورت لرې وه ماته
چې له خدايه مې په هره المانځه مې غواړې
زه اوس دومره شوم چې ته راپسې ژاړې؟

په سپين مخ دې د ماښام تياره خورېږي
سور سالو دې سور شفق ته ورته کيږي
د رواج زنځير په پښو لاسو تړلې
ستا د اوښکو او سلګو نه صدقه شم
د زوال په شان د غرۀ په سر ولاړې
زه اوس دومره شوم چې ته راپسې ژاړې؟

نيمه شپه ده ته لا ويښه يې تر اوسه
پر واټساپ مې د ځواب په انتظار يې
هر ګړی راته راليږې مسيجونه
ټليفون دې په لاسونو کې نيولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مګر بند دي زما دواړه نمبرونه**

**غلې، غلې له خپل ځانه سره ژاړې**

**زه اوس دومره شوم چې ته راپسې ژاړې؟**

*******

**ته لوبغاړی د غمجن فلم د مینځ یې**

**زړه نتلی یې، داغلی یې، پرهر یې**

**راشه اوس دې هم زما په زړه کې ځای شته**

**لېونیه! ځان راټول که در په در یې**

*******

**ستا د یاد په سر قسم خورم**

**که دروغ به درته وایم**

**نو په ژبه دې ګونګی شم**

**ته مې دومره ډېر یادیږې**

**لکه زه چې داستا مور یم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه ته چې زما زوی يې

***

## نظم

### تللي

که نظر مې دی د سترګو

که مې تور رنګ د وېښتو دی

که مې زور د مين زړه دی

حرارت که د جذبو دی

که مې چيغې تا پسې دي

که جنت مې د خوبو دی

په حسرت ورپسې ګورم شکسته يم

زه په تلليو پسې زښته ډېر خپه يم

که مې ورځې دي د عمر

که کلونه د ځوانۍ دي

که ملګري پخواني دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بی غږه خبرې

که خبرې پخوانۍ دي
هرکلي خواږه خواږه دي
که ترخې خدای پامانۍ دي
نه هېرېږې څه په بد عذاب اخته یم
زه په تللیو پسې ژبنته ډېر خپه یم

که سکون زما د زړه و
او که ستا مهرباني وه
کله زه ملامت شوی
کله ستا بدګماني وه
ژوند کې ستا له لیدو پرته
نوره سمه پرېماني وه
دا هر څه چې رایادېږي بس غوسه یم
زه په تللیو پسې ژبنته ډېر خپه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بی غږه خبرې

لېونتوب و او که مینه

زه د دواړو پوروړی

خدازده کوم یوه کرلی

زما زړه کې د غم زړی

څه بې ځایه لویې هېلې

څه بې ځایه به وم ستړی

تل یې یاد ساتم د نورو غوندې نه یم

زه په تللیوپسې زښته ډېر خپه یم

که خندلي مې یوازې

که ژړلي تا سره دي

چې هر څه زما په ذهن

کې تېرلي تا سره دي

که غروب ته په وروستي وار

مې کتلي تا سره دي

په یَوه یَوه پسې اره اره یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه په تللیو پسې زښته ډېر خپه یم

که یادونه خاطرې دي

که مو شوي خپګانونه

که اخیستې مو یو ځای دي

تر باران لاندې ګامونه

که په شعر کې مې کړي

تاته هر څو اوازونه

هغو ټولو ته همیمه شرمنده یم

زه په تللیو پسې زښته ډېر خپه یم

خفیظ همیم

***

## غزل

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدې ښيراګانې له خولې وځي ستا سفر ته مې
سترګې نور په ډېرو کتو ستړې شولې ور ته مې

تلې؛ زما د چيغو دې ذره پروا هم ونکړه
لږ خيال به دې کړی و د مات زړګي پرهر ته مې

داسې دې رامات کړلو باور خو څه بنګړی نه دی
اوس که ملايکه هم شې، نه راځې نظر ته مې

هيڅ هم ملامت نه يې، ما خپله په خپل ځان کړي
ته لايق د پښو نه وې، راپورته کړلې سر ته مې

نه وايم، په ده پسې به ټکی بد هم نه وايم
ټيټې سترګې پاتې يم صميمه! خپل باور ته مې

صميم پاچا

(c) ketabton.com: The Digital Library



❀↶

## غزل

مانه خوشاليو بيخي لاره واړوله
تا چې کله رنګ او څېره ياره واړوله

څه که راکوي دې او که نه، د الله خوښه
يوه پښه مې په بله ښه کراره واړوله

نوم دې زما واورېد، کرکې ونيوې که شرم؟
ولې دې خبره وار له واره واړوله؟

غم يې د څېرې رنګ اړولی و، وخ جار
څه زر يې له ځان څخه هنداره واړوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای دې کافر هم ساتي ددې پښتو له شر

دا جیلۍ یې څه له شور، سینګاره واړوله

ودې کوت صمیم ګله زما د شعرو زور؟

څنګه مې په ځان پسې بیماره واړوله

صمیم پاچا

❀ـہ

راشه لږ په رابطو هم فکر وکړه

چې زه څه وم اوتا څه راڅخه جوړ کړل

اوس به خود په نه خبره هم دردیږم

سپېره کاڼی وم تازړه راڅخه جوړ کړ

حفیظ همیم

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ستا په مړو سترګو مین یم

که خلک نور ګمان کوي رانده دې شینه

٭٭٭

زما ټوتی توتی زرګیه

چې مازدیګر شي په جارو دې ټولومه

٭٭٭

یواځی ما باندی تیاره ده

که د تمامی دنیا مړه دي مشالونه

٭٭٭

غم دي کمیس نه دی چې زوړ شي

زما له عمر سره سم دي ستا غمونه

٭٭٭

چې د جانان دیدن پری نشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیکاره سترګي دي رندي شي خوښ پرې یمه

≛≛≛

کله به یم کله به نه یم

که بیخي نه یم بیا به اوکړي ارمانونه

≛≛≛

په نیمه شپه مرور لاړی

دغه زیاتی به دی تر مرګه یادومه

≛≛≛

په زړه به غته تیره کیږدم

یا به برق و چوي یابه صبر شي مینه

≛≛≛

په ما رنځور لالي ته وایه

ناروغه نه یم غم دی تکه ژیره کرمه

≛≛≛

خه به دې وبخښم جانانه

(C) Ketabton.com: the Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بی غږه خبرې

**د خدای راکړي خندا تا بی برخی کرمه**

**≛≛≛**

**ناخبره رنگ می ټول در پسی بایلود..!!**

**❀❀❀**

**او په پای کې ما ټول زده کړل چی ځنګه یوازي قوي واوسم**

**.................پای..... خداحافظ.......................**

**هیله دی چی کتاب مو لوستی ویی او که کومه غلط رانه شوی ویی ماته کولای شې مسیج وکړی0711638977**

**نور کتابونو لپاره مه درسره تعقیب کړی**

**او دغه ادرس له لاری هم ترلاسه کولای شی**

(C) Ketabton.com: the Digital Library


اکرام الله «زیار»
خلك به څه ووایی
ډیر خلک نه د خپل زړه کار کوي نه د زړه خبری لیکي او
نه د زړه خبری وایی ځکه ویریږي چی خلک به څه وایی زه
وایم د خلکو پروا مه کوه دلته د خلکو عادت دی څوک چا
ته او په چا پسی نښی خبری نه کوی نو ښه ده چی ژوند
د په خپل زړه وکړئ او خلکو ته بلی بلی ووایی.!
له نورو بریالیتوبونو په هیله 1403/3/14
PRINCE IKRAM
0777638977
0711638977
(C) Ketabton.com: the Digital Library
مه درسره تعقیب کړی نور کتابونو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



Get more e.books form www.ketabton.com

Ketabton.com: the Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**